د لمر له کوره

شعري ټولګه

ډاکټر محمداکبر اکبر

۱۴۰۵ ل

بسم الله الرحمٰن الرحيم

د کتاب ځانګړنې

د کتاب نوم: **د لمر له کوره**

شاعر: ډاکټر محمداکبر اکبر

زیار او سمون: څېړنوال ډاکټر محمدداود عربزی

خپرندوی: ختیځ ادبي بهیر/ ننګرهار

برېښنالیک: athalmohd10@hotmail.com

د پښتي ډیزاین: احسان الحق کبیر

د چاپ کال: ۱۴۰۵ ل/ چنګاښ، ۲۰۲۶ ز/جون

د چاپ وار: لومړی

د چاپ شمېر: ۵۰۰ ټوکه

کچه: ۲۱/ ۱۳

د موندلو درکونه: جلال آباد/ ختیځ خپرندویه ټولنه

پښتونخوا، پېښور/ کتاب کور

چاپځی: ختیځ خپرندویه ټولنه، ننګرهار جلال اباد

د ټولګې د هر ډول چاپ او خپرولو حق له وېناوال سره خوندي دی.

ډالۍ

د خپل لیکوال او پېژاند پلار (فاتح الملک ننګ یوسفزي) په نوم چې مور ته یې ویلي و: پاڅئ! چې پاڅېږو، ګنې بیا به مو بل پاڅوي!!

او د هر هغه با احساسه پښتانه په نوم:
چې د همت مراندې یې راکښلې وي.

ډاکټر محمداکبر اکبر

کور د ستورو، کور د لمر

انساني فکر یو ژور صلاحیت دی او دا د هر انسان ځانګړنه نه شي کېدای، د دې ډول انسانانو انداز ځانګړی وي او ذهنونه یې ډېرې سترې ګالي؛ ځکه چې دا فکر انسان یوازې د ځان د تسکین په موخه نه کاروي؛ بلکې افکار یې ډېر پراخه وي او تر ځان یې لومړی په خپل چاپېریال زړه درد پیدا کوي، د خپل قام او ولس لپاره فکر کوي، په دې ډول انسانانو کې دا ماده هم وي چې دوی له خپلې ټولنې سره ذهني او رواني اړیکه لري، هېڅکله یې دغه ځواک نه پرېږدي چې د ټولنې او انساني ژوند له ناخوالو په پټو سترګو او مړه ضمیر سره پېښې کېږدي، دا ډول افکارو د انساني ژوند په نورو برخو کې هم ډېر پرمختګ کړی؛ خو موږ دلته د تخلیق په یو اړخ غږېږو او هغه د شاعرانه تخلیق خواږه دي.

پنځګر افکار یو عالم خبرې او غوښتنې په یوه وړه کوزه کې را غونډوي، د خدای پراخه نړۍ له یو عالم دردونو سره د خپل قلم وړې څوکې ته راوړي او بیا یې په خپل دوه کرښې واړه شعر کې را نغاړي؛ ځکه خو فرانسوي شاعر شارل بوډلر (۱۸٦۷م مړ) وایي چې(شاعر اوسه حتا په نثر کې هم) دا په دې مانا چې په نثر کې هم د شعر

هومره په لوړه او ژوره مانا څه ولیکه، له دې خبرې دا څرګنده شوه چې په رښتینې مانا شعر تشې خبرې نه وي؛ بلکې هماغه د سیند په کوزه کې بندولو خبره ترې جوتېږي.

زه خپله شعر د نازکه او باریکه په مانا تصوروم، هومره باریکه لکه څومره چې د انسان زړه باریک دی چې د لفظونو له لوستو سره د انسان په ذهن جادو وکړي، د بشري ټولنې دردونه په ژور فکر، د هنر په ژبه انځور کړي، دلته به ښه وي چې د ارستو پېژندنه هم را په زړه کړو، هغه وایي چې (شعر د طبیعت تقلید او تمثیل دی) که وګورو نو شاعر طبیعت انځوروي او د خپل خیال کرکټرونه په کې په بېلابېلو بڼه لوبوي، استاد الفت وایي: (شعر هغه وینا ده چې الفاظ یې ښکلي وي او ویونکی یې په فکر، پوهه، ذوق، د زړه هیجان او د روح اغېزه سره ګډ کړي).

د استاد محمد صدیق روهي په باور: (هغه وینا چې د آهنګوالو عبارتونو په واسطه د واقعیت تخیلي او بیا ځلي انځورول شعر دی).

پوهاند رښتین هم شعر (د نازکو احساساتو، تخیلاتو او ماناو په موزن او رنګینو الفاظو ښکلي کولو ته وایي)؛ خو که له دې ټولو را تېر شو، نو بیا د هر شعر مانا د شاعر په زړه کې ده؛ ځکه خو پوهان وایي چې ښه شعر مانا ته اړتیا نه لري، زه هم له همداسې یو ښه شاعر او د هغه له ښه شعر سره مخ یم، نه غواړم چې د دې شاعر

شعرونه مانا کړم؛ ځکه چې د شعر مانا د شاعر په ذهن کې ښه وي، خو زه به یې دلته د شعر په چاپېریال او په کې پېښې واقعات وپلټم.

د ډاکټر اکبر اکبر شعر هم له همدا ډول واقعیتونو، ذوق، هیجان، لوړ فکر، احساس او تخیل، د الفاظو ښکلی او خوږلن ترون، د رنګینو الفاظو را ټولول او په ښکلې بڼه انځورول، د پښتنې ټولنې د طبیعت تقلید، د بشري ټولنې دردونه او بیا د خیال په ژبه عالي کردارنګاري، موزونه او آهنګواله ژبه، دا ټول هغه څه دي چې د اکبر په شعر کې ځای ځای مونده شي.

ډاکټر اکبر که څه هم یو رنځورپوه دی؛ خو زړه یې له دردده ځکه ډک دی چې هره ورځ د نورو انسانانو په زړونو کې ګوتې وهي او درملنه یې کوي، نو ښه به دا وي چې ووایو: اکبر د انسانانو زړونه سپړي، دننه یې رنځ ګوري چې د دې انسان په زړه څه تېر شوي او په زړه کې یې کوم غمونه پراته دي؛ دا ټول محسوس کړي او د زړه په ژبه یې یو یو په قلم لیکي او د خپل زړه د درد په خوږ کې یې را نغاړي، بیا یې د هغه د درمل په موخه ترې آهنګ، سور او تال جوړ کړی دی:

دا ســــاروان بیـایي پـه شـــاړو بهیرونـه
زه یــي پــېــژنــم د لارو قــدمــونــه

کــه مونږ ټول د زړه رګونــه ورپېونــد کړو
د ګــل عمر بــه شي ســـل زره کلونــه
مونږه ســتا په لـــوپټو کې واړه تاو کړل
کــه شــعرونــه وو، کــه زړونــه، کــه ګلونــه
چې د ســپينو ورځو توغ ورسره نــه ځي
د رڼـا پـه تـار يې مـه ګنـډئ زخمونـه
ډيوه مخې په ســالـــو کې پټې راغلې
د دې ښــار ړندو ته نه ښــايي مخو نه
دا ډبرې چې زمونږ پـه ويـنو سرې دي
ښـــامـارانـو لـه تـرې مـه تـوږئ لالـونـه
د پـېـړۍ د قـارون وران شـــه بـازارونـه
په کې خرڅ شـــول ا يمانو نه، ضـــميرو نه

اوسمهالي شاعران د خپلو شعرونو لپاره د ورځنۍ تجربه شوي ژوند چاپېريال په دقت ويني او الهام ترې اخلي او بيا يې د شعر په خوږه ژبه انځوروي؛ خو که چېرې د ټولنې له واقعتونو الهام نه اخلي؛ نو دا لار ورکی شاعر دی او د ټولنې درد نه دوا کوي، په کلام کې يې شعريت نه موندل کېږي، شعر يې نوښت نه لري. زموږ نازکخياله شاعران د ټولنې واقعتونه ويني او بيا همدې لار

ورکې ټولنې ته له نورو ټولنو سره د پرتلنې او په لویه کې د سمې او پرمختللې لارې تیوري وړاندې کوي، کوښښ کوي چې ټولنې ته یوه نوې او اغېزمنه لار روښانه کړي، زموږ شاعر هم همدا اړتیا په پام کې نیسي او خپل ولس ته د عینې واقعیت په ډول پرتې او نا اوارې ستونزې وړاندې کوي او تر څنګ یې د سمې لارې پلونه هم روښانوي.

ځینې داسې شاعران هم شته چې په وړاندې کړې نظریه د عمل تر بریده ډېر ټینګار کوي؛ خو زما په فکر دا به تر ډېره د شاعر دنده نه وي، ځکه چې د پلي کېدو په اړه یې هومره پراخ څه په لاس کې نه وي، شاعران د ټولنې وګړو ته اغېزمنې لارې په ګوته کوي، د مینې په ورشوګانو، په سمه او غږ، په ښکلو انځورونو وړاندې کولو سره کوښښ کوي چې فکرونه روښانه کړي؛ خو دا چې زموږ د خلکو په ذهنونو څومره اغېز کوي، دا یوه ځانګړې بحث ته اړتیا لري؛ ځکه چې په دې کې د ټولنیز شعور او افکارو د لوړتیا او ځوړتیا مسئله مطرح کېږي.

ډاکټر اکبر د شعر دا ټول خواږه او اړتیا په پام کې ساتي او هر څوک یې د شعر په هېنداره کې خپل مخ ویني، دا نو بیا د ولس او قامو پورې اړه لري چې چاته په کې خپل مخ او کرکټر څه ډول ښکاري، ځینې په کې خپل مخونه سم او ځینې یې کاږه ګوري.

ای! څښـــتنـه د پګړۍ او د دســـتـاره
تـه خبر يې مـا شـــپـه تېره کړلـه نـاره
د بـچـو او د مـېـرمـن ډوډۍ مــې نـه وه
نـو زه لاړم غـلا مــی وکــړه لــه بــازاره
ته واکمن يې کار، کالي، ډوډۍ په تا دي
مـا بـه بـيـايـې يـا تـر کـاره يـا تـر داره
يـوه چـغـه پـورتـه شـــوې ده واکـداره
لـه ولســـه، د ولـس لـه دغـه ښـــاره

شاعر د هېڅا مخ ته نه ګوري چې دا د يو کروندګر، د خان او که د يو قاتل او ظالم مخ دی، سره له دې چې زموږ په ټولنه کې ډېرو په خپلو مخونو د دروغو نقابونه را خواره کړي دي او په ټولنه د يوې ناپوهه هغې ګومان کوي، شاعر بيا د ټولنې د وياند په توګه هېنداره د هر وګړي مخ ته نيسي او له ډېرو مخونو پردې پورته کوي، شاعران د عدل تله په لاس کې نيسي او هر څه د يو عيني واقعيت په توګه را سپړي او د شعر په خوږو يې لړي، دا خواږه بيا ظالم ته لړلي زهر ښکاري؛ خو کروندګر او غريب ته د ګوړې خوږ شربت:

صـــحـيـفـه لـولـه د مـيـنــې لـه کـلامـه
ای! د وخـت د لـېـونـو د صـــف امـامـه
ټول خواږه د مـاړه خـېټې تـه ور درومي

هســـې خوځې پرې د وږي انســـان ژامـه
نو لږ خو راشـــه د ســـپوږمۍ د کور تر بامه
ای! زمونږ د چم د مړو ډيوو مـابـــامـه

د شعر ژبه د عامې ټولنې د زړه اواز وي چې ډېر ځله يې په زړه وي؛ خو په خوله يې نه شي ويلی او دا نه ويل يې هم د خپلو رواني ربړو له وجې وي، د داسې ټولنو لپاره شعر تر ټولو غوره رسنۍ او د مظلوم د زړه غږ نورو ته رسوي. همدا ده چې شعر د ټولنې شعور را پاروي، عالي افکار وګړو ته رسوي او په دې توګه د وګړو اذاهن را ويښوي.

هو! دا سمه ده چې په ټولنه کې د هرې کټګورۍ افکار توپير لري، که موږ د ټولنې هغه وګړي ته چې ښېګا يې بچي نهر ويده شوي وي او ټوله ورځ يې د يوې مړۍ ډوډۍ پسې منډې وهلې وي او د سلو زرو نورو انديښنو تر څنګ ورته د عشق او مينې شعر ووايو، نو ممکن په هغه ښه و نه لګېږي؛ خو که د همدې محروم انسان په زړه پراته دردونه په شعر کې منعکس شي او هغه يې واوري؛ نو ممکن په زړه جوړ ټپونه يې يو څه ټکور شي او په اوږو پراته پنډ غمونه به يې يو څه سپک شي.

چې د بل د سخا تالي په غوړو پایي
زه په هغو وږو سپورو کې بندي یم
د هېواد د تومت هر کاڼی په سر خورم
د دې ښار په څو سرتورو کې بندي یم
چې پیسې خوري چې ایمان خوري چې سړي خوري
زه په داسې سړي خورو کې بندي یم
یوه ورځ به لکه لمر ځلېږم ځمکې
خیر که اوس درنه په ستورو کې بندي یم

دا ډول د ټولنې د هرې طبقې له دردونو او ځانګړنو یوازې شاعر خبر وي، کله چې شاعر د ټولنیزو واقعتونو نه ځان خبروي او د ټولنې ستونزې د خپل زړه په غوږونو اوري.

تر هغې به دا ټولنه جوړه نه شي
چې تر څو په کې یو خان دی بل دهقان دی

یا دا چې:

کړاونه د دې ځمکو د دهقان دي
خو د کلو ځمکې ټولې د دې خان دي

ډاکټر اکبر هم د همدې غریبې او ځوربدلې ټولنې یو وګړی دی او د خپلې ټولنې ټول دردونه یې ښه درک کړي دي، همدا وجه ده چې هره نادوده ښه انځوروي او داسې یې لوستونکي ته په ذهن ور ننه باسي لکه پېښه چې خپله په شاعر تېره شوي وي، ټولنیز چاپېریال د شاعر په ذهن ژور اغېز کوي؛ ځکه چې په ټولنه کې اعتدال، دود دستور، ورورولي، مینه، له یو بل سره همدردي، د یو بل مرسته، ښکلاګانې او نور ټول موجود وي او دا ټول د شاعر په ذهن بشپړ اغېز کوي، شاعر ډېر ټینګار د وګړو په افکارو کوي، ځکه چې له ټولنیز فکري سمون سره په ټولنه کې ارزښتونه یا معقولیت پیدا کېږي او له همدې معقولیت ټولنیز نیاو (عدل) را پارېږي او په پایله کې په ټولنه کې د فکري عدل لارې ټاکل کېږي، په دې مانا چې معقولیت دا غوښتنه کوي چې هر انسان دې د ژوند په یوه برخه کې او د ټولنې د وګړو ژوند دې تر مادي ژونده ارزښتمن وګڼل شي.

په فکرونو، قلمونو بندیزونه
په دې ښار کې نخښې واړه د زندان دي
شل یې پښې، شل یې تنې، شل یې لاسونه
ټول پراته دي که یو څو په کې روان دي
چې په غبرګو ور کتی ښکلو ته نه شو

ړندې ښــې دي که مو ســترګې د ارمان دي
ټول کــاڼــه یو لــه پېړیو ورتــه نــاســـت یو
کــه پــه چم کی راتــه چغې د آذان دي

بل لور ته په همدې ټولنه کې نفرت، عناد، کینه، قتل، ظلم، بدي او ډېر نور منفي افکار هم وي، خو شاعر له دې ټولو څخه نفرت کوي او په بده ورته ګوري، غواړي چې د ټولنې نابرابرۍ رسوا کړي، کرکه ترې وکړي او د عامو خلکو په ذهن یې هم بد راولي، دا زما په فکر د ټولنې د سمون او افکارو لوړولو یوه ښه لاره ده.

د دې ښــــار پېغلې نیمزالې د جنګونو
د دې ښــــار ښــــاپېرۍ ټولې د دېوانو
د رمو شــــپونکي یې بیا له کلي ورک کړل
اوس بــه کلی رمې ســـــاتي پــه لېوانو
برخې یو هومره پــه ټولو وېشـــــل غواړو
پــه خــانــانــو او د ډېو پــه خــوارانــو
د هـغـه ولـس د فـکـر کـعـبـې ړنـګـې
چې تنـدي ولي هېنـدارو تـه پـه کـاڼو
هغه ځانګې کوربنې د پســــــــرلو کړئ
چې ازغي ســــاتي پاســـته د ګل تر پاڼو

د **اکبر** د نیمو شـــپو د دعـا لاس دي
کټوري غواړي اســمانـه ســتـا لـه زانګو

انسان تخلیقي افکار لري، احساس، خواهش، ادراک، خلاق سوچ، بصیرت، اراده، مینه نفرت، عدل او نور ډېر شته چې دا ټول د انساني فکر سره تړلي دي، انساني ذهن باید د خپل خلاق خاصیت له مخې د ژوند په چارو کې با احساسه وي، سوچ وکړي، مینه وپالي، ارادې لوړې وساتي.

کـه اورونـه یـوو نـو لارو تـه دې بـل یـوو
کـه ایـرې یـوو نـو ایـرې دې د انـګـار یـوو
مـونـږ پـه بـره بـانـدې خـپېـژو عـالـم څـارو
مونږ لـه بره نـه د لانـدې عـالـم څـار یوو
د ښـایسـت د ازمېښـتونو ګواښ مو مات کړو
پـه ټوټو کې د هینـدارو مخ د یـار یوو
هـډوک مـاتي یوو د ټیـک د تودو وړانګو
ســتا د تورو اوږدو څڼو په شــپه بار یوو
چې په شـپو، شــپو کې ګنډي د لمر زخمونه
مـونـږ د هـغـو ډیـوګـو د رڼـا تـار یـوو

ډاکټر اکبر د ژوند تعریف په ډېر لوړ خیال کوي او انساني ډلې کار او زیار ته هڅوي، نفرت بد ګڼي، عدل غواړي، زړه یې له مینې او خوږو ډک، ارادې یې لوړې دي، هر با احساسه انسان ته په درنه ګوري او د خلاقیت هیله ځنې کوي:

ژوندون څه دی خو ویل یا اور بدل دي
یـا کرل دي یـا د خپـل کره رېبـل دي
هره شـــپـه د ارمـانونو خوب لېـدل دي
هر ســـهر پـه ارمـانونو پســـې تلـل دي
یا یې ټیک یا یې خالونو ته کتل دي
یـا تر لمره یـا تر ســـتورو ور ختـل دي
نـه پوهېږو چې لـه کومـه ځـایـه راغلو
نه پوهېږو چې تر کومه ځایه تلل دي

د ډاکټر اکبر مینه سپېڅلې ده او تر څنګ یې د خپلې ټولنې دردونه نه دي هېر کړي، د ده په ټولنه تېرو ناخوالو او د انساني بې عدالتیو نه هم پرده پورته کوي، د روڼ سباوون هیله هم په زړه کې ساتي، شاعر ته که څه هم د کلام په پیل کې د مینې رنګ تصور شوی؛ خو ژر یې د ټولنیزې اړیکې احساس را ویښ او د تېرو ټولنیزو بدلونو او نادودو انځور ور په ذهن شوی دی، د خیال

او عینیت ترمنځ یې تضاد واقع شوی، دلته هماغه خبره سمه برېښي چې د شاعر په مینې، ټولنیز محرومیتونه ور غالب شوي او خپله مینه یې ترې هېره کړې ده.

پورته کوم رنګونه چې د شعریت له مخې د شاعر په کلام کې وپلټل شول؛ دا ټول هغه څه دي چې شاعر د خپلې ټولنې ترجماني کوي او د یو سپېڅلي استازي په توګه یې خپله دنده سمه تر سره کړې ده، شاعر خپل زړه دردمن کړی او د هر ډول ټولنیزو دردونو انځورونه یې کړې ده، د ډېرو بې ضمیره انسانانو خرابې ارادې یې رسوا کړې دي او له ډېرو خرابو مخونو نه یې پردې پورته کړې دي او هر چا ته له خپل عمل سره سم د لمر په څل د رڼا لارې ښیي، ډاکټر اکبر لکه د ملنګ جان په څېر یوه هیله لري او هغه د خپل قام د هسک او لوړاوي هیله ده، په دې هیله چې یوه ورځ یې قام په سپوږمۍ او لمر کې د ځلا څرکونه ووینې.

څېړنوال دوکتور محمدداود عربزی

Associate. Prof. Phd. Daud Arabzai

د پښتو څېړنو د بین المللي مرکز رئیس

۲۰۲۶/۰۲/۱۲ز

دا کتاب!

د لمر له کوره

زه ژوند د ودې یو پړاو گنم او په سد یې بولم، یا Conscious یې گڼم او ادب په دې ښکلی دی چې د ژوندانه د ودې یوه لار ده او ژبه یې بله لاره؛ ځکه چې ژبه ادب پنځوي، نو ژبه تر ادبه لویه ده او ژبه له فکره پنځېږي او له فکره غوړېږي، نو فکر تر ژبې لوی دی او د ژوند وده چې فکر د یوې څرگندونې او مظهر په ډول د خپلې ودې په بېلا بېلو اړخونو کې کاروي؛ تر ادبه او ژبې لوی بولم.

ژوند زما په اند په ډېرو برخو کې د چارو نوم دی، خو د ژوند هره څرگندونه یې لا د چارو په بڼه نه ده څرگنده کړې، یا ویلی شو چې کېدای شي زمونږه د مغزو په ولکه کې نه وي او سد conciousrness یا اروا د

همدې ډول انګېرنو یا ګڼلو او concrpts یو ساری ګڼلی شو او بل ساری یې په لویه کې د فکر دی چې د ژوندانه له وړتیاو یې یوه وړتیا بولو.

ربښتیا خو دا ده چې له لیکوال، ژرنلسټ او رپوړټره واخله تر کرپوه او بزګره او له چارپوه او کسبګره واخله تر ساینس پوهه او له بینکره تر قانون او دودپوه او له نیاو واله تر منتظم او سموونکي، له پانګواله تر سوداګره او له څارنې تر سیاسي رغون او سیسټمه، دا هر څه یا په فکر ولاړ دي او یا په کار، ژوند له پوهې، فکره، څېړنو او له کاره وده کوي او مونږه هر یو تر نر او ښځې او د ژوندانه تر بېلو او ګڼو څرګندونو په پوهه او د کار په وړتیا سمبال شوي یو، دا ځکه خو زه تر ټولو غوره واکمن ټولنیز او حکومتي نظام هغه نظام بولم چې د هر انسان د ژوندانه د ودې لارې جوړې کړي او دا لارې د کار او پوهې په دواړو پښو ودروي، د ساري په ډول که په نن دولتي او حکومتي نظامونو ته وګورو؛ نو د چین نظام په کمونېزم او داسې ګډواکۍ ولاړ دی چې په یوه ګوند کې یې ورټوله کړې ده او جاپان ټولواک او امپراتور لري یا لوېدیځ نظامونه د ولسواکو نظامونو چغې وهي؛ خو په دې ټولو نظامونو کې یو خوی شریک دی او هغه شریک خوی دا ټول دولتي نظامونه په وړاندې بیایي، هغه شریک خوی یې دا دی چې هر څوک (نر دی او که ښځه)؛ خو په دې نظامونو کې کار کوي؛ ځکه چې کار و نه شي او له وګړو جوړې ټولنې کار و نه کړي، نو تر هغې د هغو ټولنو د ودې او پرمختګ تمه کول بې ځایه او شنډه انګېرنه ده او ولسونه په یوه بد، شنډه او بې ځایه سیالۍ کې غورزوي. زمونږ ملت د یو ولس په توګه په تېرو څه د

پاسه پنځوسو کالو کې پرله پسې بېلابېل نظامونه وازمايل؛ خو چې تر کومه مو کار، زده کړې او پوهې ته مخه نه وي کړې؛ تر هغې به همداسې اوترې او ګډې وډې منډې وهو او دا به ګڼو يا په دې ګڼلو به را په کې ځينې وګړي او ډلې تېر ويستل کېږي چې د نظام تش ډول او يا د ټولنې، ولس، ملت او هېواد تش نومونه د وګړو ژوند ورجوړوي؛ خو داسې نه ده؛ بلکې وګړی او د وګړو ولسونه او هېوادونه په کار او پوهه جوړېږي په تش نظام يا د يوه نظام په نوم نه جوړېږي، ګنې نو چين، جاپان او لوېديځ به د بېلابېلو نظامونو له لرلو سره سره بيا هم په خپل خپل ځای مخکې او د ولسي پرمختګ سرخېل هېوادونه نه وو.

په کار پوهه چې د علم او زده کړې له لارې کېږي؛ د انساني ټولنو او ولسونو دپاره د هغوی د ژوندانه د ودې لارې جوړوي او چې تر څو دا لارې د کار، علم او پوهې په لاسو جوړې نه شي تر هغې نه نظامونه څه کولی شي او نه د نظامونو بدلون او د يوه نوي حکومتي سيستم او نوي سياسي واک واکمنول دا ستونزه اورولی شي، مونږه دا تجربې ډېرې کړي خو ټولې لرې او ناکامې وې؛ ځکه چې ټولنې له کار، زده کړې او پوهې سره وړاندې ځي، يواځې د واکمنو نظامونو د نومونو له بدلېدلو سره په وړاندې نه ځي، نو نه به د واکمنو نظامونو د راوستلو او ټينګولو دپاره يو بل وژنو او نه به کار، زده کړه، پوهه او علم پرېږدو؛ ځکه چې د کار او پوهې پرېښودل د ژوندانه وده راشنډوي او له پښو يې پرېباسي.

ادب د ژوندو تر منځه د اړیکو او خبرو اترو یوه غوره لاره ده او شعر د دې لارې یوه بڼه !!، شعر رسالت دی او شاعر د ټولنې سره د شعر له لارې خبرې کوي، دا کتاب همدا خبرې دي چې زه یې د خپلې ټولنې او په لویه کې د انساني ټولنې سره کوم، زه ټولنیز بدلون او پرمختګ له کار او زده کړې ګڼم.

زما په اند ژوند د ټولو ژوو حق دی او له دې سریزې واخله د دې کتاب تر شعرونو، زه د ټولو ژوو او انسانانو په همدې حق غرېدلی یم او له خپل دغه اند سره سمه مې د ژوند او مرګ لړۍ د خپل شعر د فلسفي فکر په ګوتو راسپړودې ده، څومره مې سمه یا نا سمه راسپړودې؛ نو د کتاب لوستونکی د دې جاج په اخیستو کې خپل مخی او خپلواک دی.

ما په دې کتاب کې خپلې نثري لیکنې هم رااخیستلې؛ خو ملګرو مشوره را نه کړه، کتاب له ۲۰۲۰ ز نه د ۲۰۲۵ ز تر نومبره زما ټوله شاعري ده، نورې لیکنې، ډرامې، ټولنیزې، سیاسي، ساینسي او فلسفي لیکنې مې په دې کتاب کې نشته، که ژوند و؛ نو دا لیکنې به په بېلو نثري کتابونو کې خپرې کړم.

په پای کې له هغو ټولو ملګرو او په تېره بیا له ډاکټر محمدداود عربزي مننه چې له ډېرو بوختیاو سره سره یې د کتاب خپرولو ته وهڅولم، د کتاب د سمون او اوډون زیار یې وګاله، کور یې ودان او ژوند یې له ښادیو ډک شه.

ډاکټر محمداکبر اکبر

۲۰۲/۱۱/۰۸ ز

غزل

زه د خپل فکر په تورو کې بندي يم
خلک وايي چې په ستورو کې بندي يم

د کوڅو په کږلېچونو کې يې ګرځم
د ړانده کلي په لورو کې بندي يم

ستا د څڼو ستا د سترګو تور را پورې
ستا د سپين جبين په تورو کې بندي يم

چې د بل د سخا تالي په غوړو پايي
زه په هغو وړو سپورو کې بندي يم

د هېواد د تومت هر کاڼی په سر خورم
د دې ښار په څو سرتورو کې بندي يم

چې پېسې خوري چې ايمان خوري چې سړي خوري
زه په داسې سړي خورو کې بندي يم

د شنو پرخو د ډغرو یې سرونه
د دې سیمې په سر زورو کې بندي یم

د فکرونو رڼاګانو ته ړانده دي
زه د وخت په څو شمکورو کې بندي یم

یوه ورځ به لکه لمر ځلېږم ځمکې
خیر که اوس درنه په ستورو کې بندي یم

ګریوز اینډ، کېنټ، برتانیه
۲۰۲۰/۰۹/۰۹م

ویده ژوند، که ویښ ژوند؟

ژوندون حیران دی، هک پک دی، هیښ دی
چې ژوند ویده دی که ژوندون ویښ دی
هغه انځور دې چې احساس جوړ کړ
خو لا د فکر په دېوال سریښ دی

۲۰۲۰/۱۰/۰۷

غزل

زمونږ لاس، زمونږ لســـتوڼي د یـارانو
د دوی شـــونډې، پــــېزوانونه د مارانو

د دې ښـــــار پېغلې نیمزالې د جنگونو
د دې ښـــــار ښــــاپېرۍ ټولې د دېوانو

د رمو شپونکي یې بیا لـــــه کلي ورک کړل
اوس به کلی رمې ســـــاتي په لــــــېوانو

برخې یو هومره پـه ټولو وېشـــــل غواړو
پـه خـانـانـو او د ډډو پـه خـوارانـو

د هـغـه ولـس د فـکـر کـعـبـې ړنـگـې
چې تــــــــندي ولي هېندارو له په کاڼو

اباســـين تـه پـه میرو کې لارې ورکړئ
دښـــتې یوســـئ تر ځنگلو د ممانو

هغه څانگې کوربنې د پســــــــرلو کړئ
چې ازغي ســـاتي پاســـته د گل تر پاڼو

د **اکبر** د نیمو شـــپو د دعـــــــا لاس دی
کټوري غواړي اســـما نه ســـتا له زاڼو

۲۰۲۰/۹/۱۵
گریوز اینډ- کېنټ، برتانیه

رباعي

د هر زور د واک د زور گروې تـه لاس کړئ
انســـانان د هر ســـتم له بنده خلاص کړئ
ډېـوې بـ--لـې کړئ د فـ--کر، زړونـ--ه تور دي
ولسونه فرعونانو تـ-ـه نسـ----------کور دي

سهار، د قدم وهلو پر لار، گریوزاینډ، برتانیه

۲۰۲۰/۱/۱۸زکال

غزل

ډیوگو لـه مې منگول د ســهـار راکـه
شــور یې راکه، اور یې راکه، انگار راکه

چې کوم ستوری وي زمونږه د بخت ستوری
واک د شپې په هغه ستوري د څار راکه

زه د تــــورو، قلمونو خوشــال خان یم
د پــــیړۍ په اورنگزیب راته وار راکه

ای! د ســپینو آیــــینو غوندې زړگیه
د لســتوڼي ماران ډېر دي خو یار راکه

چې یې ټولې لارې ما تـه رارســیږي
د هـغـو یـارانـو زړونـو تـه لار راکـه

زه د شـــپو پـه کور کې نه کوم کارونه
که د لمر په کور کې کار وي نو کار راکه

اکبر چــــرته پـه کې زر کلـــــونه اوسي
خو څو شپې د عشق کاله کې په شمار راکه

۲۰۲۰/۰۹/۱۹
ګریوز اېنډ، کېنټ، برتانیه

قطعه

زما هـــــــــــر تېـــــــــــر اتـــــــل دی
زمـــا هـــر څـــه زمـــا ويـــاړ دی
کــه مــې واورې د شـــانـګــلــې دي
پــه بــکــوا کــې کــه اهــاړ دی

۲۰۲۰/۲/۲ز کال
د قدم وهلو پر لار، ګریوزاینډ، برتانیه

مونږه ټولو وطن وران کړ

دا چـې ټـول پـه کـې راټـول یـو
دا چــې غــټ غــټ ورتــه گــورو

مــونــږه ټــولــو وطــن وران کــړ
مــونــږ پــه گــډه وطــن پــلــورو

مــونــږه یــو د بــل اجــل یــو
مــونــږ د مــړو یــو کــاروان یــو

مــونــږه ټــولــو یــو بــل مــړه کــړل
مــونــږ د یــو بــل قــاتــلان یــو

۲۰۲۰/۰۹/۲۰، گریوز اینډ. کېنټ، برتانیه

هېنداري مه ماتوئ، خپل مخونه سم کړئ!

غزل

ډیوې سرې شوې په سپین سهر کې
لارې یې تم شوې زما په ور کې

له تورو کاڼو چې غمې تورې
کاڼې دې پاتې نه شي په غر کې
تیارې د لمره سره جنګ نه کا
شپې شاته لاړې د غرمو لمر کې
ځئ چې ایسار شو د سترګو جنګ ته
کډې به څه وړو، په داسې شر کې
وړې، وړ سترګې، لاړل، ماړه شول
د بنګړو شرنګ شو زمونږ په ور کې

ټیک ته دې ګورم کتی دی نه شم
کله ښکاریږې په داسې لمر کې

نیټه: ۲۰۲۰/۱۰/۱۱
ګریوز اینډ، کېنټ، برتانیه

همدا غزل
په اوږدو سېلابونو کې

چې ډېوې د شپو سړې شوې په سهر کې
لارې ودرېدې زمونږ د کاله ور کې

څومره ګڼې مو د زړه ټوټې پرتې وې
څومره ډېرې وې خبرې په دې سر کې

اوس ترې سترګې د شین سترګو غمو تورې
اوس دې تېرې پاتې نه شي په دې غر کې

شـــپې د لمر د پلوشـــو د جګړې نـه دي
شپې دجنګ ډګر تـــه نه ځي په دې لمر کې

د ســـبـا پـه ځمکـه کر تـه متې نغـاړم
ګـهـيـځـونـه راټـوکـيـږي زمـا کـر کـې

بربښ د غاښـــو يې په سرو شـــونډو پربوځي
مـلـغـلـرو اوبـه تـوی کـړلـې پـه زر کـې

زه د زړه کـور ورانـومـه جـوړ مـې نـه کـړو
ځئ چې ټول ښـــکلي راټول کړو په اشر کې

ګلې دا دې د وږ ســــترګي ا کبر کور دی
شرنګ دې شنو بنګړو له ورکړه په دې ور کې

۲۰۲۰/۱۰/۲۱
ګريوز اېنډ،کينټ، برتانيه

مونږ او د ژوند منډه!

زمونږ منډه له یوه گامه تر بل گامه
زمونږ هر قدم د خپل کاله تر بامه
مونږ د خپل مزل په تاو لیکو کې گرځو
هر سهر مو لوری اخلي له ماښامه

۲۰۲۰/۱۰/۰۷

زه او یار

زه د یار په مخ کې یم، که زه د مخ انځور کې یم
زه د کور چینه کې یم، که نه زه یې په کور کې یم
زه یې د لمبې څرک یم، که زه د لمبې اور کې یم
زه د توپان شور کې یم، که زه د توپان زور کې یم

۲۰۲۰/۱۲/۲۰

گریوز اېنډ-کېنټ، برتانیه

یو پخوانی شعر
د یوه نوي بند سره!!

لکه رنګ چې د ګل ویلي شي اوبه شي
د یوې پاڼې په ټنډه کې خال جوړ کړي

داسې هم زما دا خیال له خپله خیاله
کله کله ستا د مړو کتو خیال جوړ کړي

مرغلرې او لالونه سره مات کړي
نوې نوې مرغلرې او لال جوړ کړي

نو بیا دا کولال په دې کولالو ګوتو
د کولال خاورو ته کېني کولال جوړ کړي

۲۰۲۱/۰۳/۱٦
ګریوز اینډ، کېنټ، برتانیه

زما غر او ستا اسمان

چـــې زمـــا د زړه ډګـــر دی
کـور د ســــتورو، کـور د لمـر دی
تـر دې غـره ســــتا اســمان دی
تـــر اســــمانــه زمـــا غـــر دی

کـه پـه هســـک کې ســـتا وزر دی
نـو تـر هســـکـه مـې نـظـر دی
ســـتا اسـمان که تر محشـــــــر دی
زمـا ځـار يـې تـر مـحشـــــــر دی

دا زمـا ســـــترګـې چـې دوې دي
ســـــتـا د کـور د تـاخ ډيـوې دي
دا دروا‌خـــلــه دا درســـــېـځــه
دا نـه مـړې دي، نـه ســـړې دي

ســـتـا زړګـی د رنـګ مـنـګـی دی
پـه کـې مـل د مـيـنـې تـوی کـړه
ســـتا ښـايســـت د پـــــېغلتوب شـــو
مـا زلمـی کـړه مـا در لـوی کـړه

هم دې سمه، هم دې غر یم
هم دې باغ یم هم دې راغ یم
هم دې لمر د سپینې ورځې
هم د نیمې شپې څراغ یم

نو دغه ښار د بېلتانه دی
دلته سیمه د عشق ورانه
داسې نه کېږي جانانه
تاته ګرانه، ماته ګرانه

لږ به زه شم لا مکانه
لږ مې ته شه تر مکانه
څه زما له غره واخله
څه له ستورو را اسمانه

سهار، ګریوز اېنډ، کېنټ، برتانیه
۲۰۲۱/۰۵/۲۲

هیلې او تکلونه

تکلونه مې د هیلو سره مله دي
پړاونه مې په هر پل کې پراته دي

چې له سپین مخ نه یې تور سالو راکاږم
ته وې ورځې مې د شپو نه په واته دي

څڼورې په سپین مخ دې څڼې بار کړه
خزانې په ښامارانو د ساته دي

لړ زما د شپو د درد بندار له راشه
سل لمرونه یې په څړیکو کې خاته دي

ځئ! د خپلو سپینو اوښکو ډیوې ورکړئ
دا ړانده چې لا د لارو په کاته دي

په روپو باندې یې ډک کړل بالښتونه
بالښتونه یې سرونو ته پراته دي

د وړو وړو فکرونو یو څو تنه
د روپو د بالښتونو په ساته دي

دوی په خپل اور کې پراته دي او وراته دي
داسې مړه دي چې ژوندو ته په کاته دي

٢٠٢١/٠٧/٠١
ګریوز اینډ، کېنټ، برتانیه

(هغه ورځ چې چین هم د مریخ په مخ روباټ کوز کړو او مونږه په خپل منځو کې په جنګونو اخته وو)

څلوریزه

چا چې کېښودل په ستورو قدمونه
هغوی ولیکل په ستورو کې نومونه
د رڼا په برېښ چې څغلي سیالي کاندي
هغه قام راښکل د ورځو مهارونه

٢٠٢١/٠٥/١٥

غزل

دا ســـــاروان بـيـايـي پـه شـــــړو بـهـيرونـه
زه يــېـ پــېــژنــم د لارو قــدمــونــه

کـه مونږ ټول د زړه رگونـه ور پېـونـد کړو
د گـل عـمـر بـه شي ســـل زره کـلـونـه

ځـه چې وکرو پـه خپلو ځمکو ســتوري
ځه چې کېږدو ســتا په پښــو کې اســمانونه

مونږه ســـتـا پـه لوپټو کې واړه تـاو کړل
کـه. شـــعرونـه وو، کـه زړونـه، کـه گـلـونـه

اوس د هسک د رڼو ســـــتورو د سيالۍ شـول
يـا خـالـونـه يـا د اوښــکـو گـرېـوانـونـه

څوک يې پرېږدي زنځيرونـه لاس يې مـات کړي
څوک يې مـــــات کړي د لاســونو زنځيرونه

اوس دې وږې تورې تېرې په نس کېږدي
د غلو له خمبو تاو شول دېوالونه

چې د سپېنو ورځو توغ ورسره نه ځي
د رڼا په تار يې مه ګنډئ زخمونه

ډيوه مخې په سالو کې پټې راغلې
د دې ښار ړندو ته نه ښايي مخونه

دا ډبرې چې زمونږ په وينو سرې دي
ښامارانو له ترې مه توږئ لالونه

يو ياغي څراغ د شپې سره په جنګ دی
څېروي يې تر سهاره ګرېوانونه

د پېړۍ د قارون وران شه بازارونه
په کې خرڅ شول ايمانونه، ضمېرونه

۲۰۲۱/۰۵/۱۳

ګريوز اينډ، کېنټ، برتانيه

دا دې مینې څه وکړل؟

پاڼه د ګلونو شوم
مل دې د کلونو شوم
وچه شوم او پرېوتم
ستا کتاب ته کېوتم
دا دې مینې څه وکړل؟

چغه شومه، خور شومه
مات نه شومه زور شومه
شپه نه شوم، سره نه شوم
ورځ شومه، سمسور شومه
دا دې مینې څه وکړل؟

سل جوپې وریځې شوم
پلار د اباسین شومه
یوه بکوا غاټول یې کړم
ټول له دښتو شین شومه
دا دې مینې څه وکړل؟

څـــيره د ســـــهـــر شـــــومـــه
زيـــرى دې د لمـــر شــــومـــه
کـــوز تـــنـــگـــو تـــه پـــرېـــوتـــم
بـــره د غـــره سر شـــــومـــه
دا دې مـــيـــنـــې څـــه وکـــړل؟

تـــور دې تـــور کـــړم، رنـــگ يـــې کـــړم
بـــوټـــى چـــې د بـــنـــگ يـــې کـــړم
پـــټ دې پـــه ســـــالـــو کـــې شـــــوم
غـــاړه د لـــونـــگ دې کـــړم
دا دې مـــيـــنـــې څـــه وکـــړه؟

دوړه دې د لارې شـــــوم
مـــخ تـــه دې هـــېـــنـــدارې شـــــوم
ټـــول درتـــه لـــوگـــى شـــــومـــه
ټـــول چـــې درنـــه وارې شـــــوم
دا دې مـــيـــنـــې څـــه وکـــړل؟

خـــونـــد يـــې د اوبـــو کـــړمـــه
رنـــگ يـــې د اوبـــو کـــړمـــه
ډډې د ســـــيـــنـــدونـــو شـــــوم

څنګ يې د اوبو کړمه
دا دې مينې څه وکړل؟

خور شومه په ځمکه کې
شور شومه په‌ځمګه‌کې
ټوله ځمکه کور زما
کور شومه په ځمکه کې
دا دې مينې څه وکړل؟

۲۰۲۱/۱۰/۱۰
ګریوز اينډ، کېنټ، برتانيه

رباعي

هره ورځ تر ښکلو پورې چارې وړو
عشقه! ستا تر کوره د زړه لارې وړو
مونږ د خپل انځوره پاتې نيمې يو
لاسو کې يې کسو له هېندارې وړو

۲۰۲۱/۰۸/۰۴
ګریوز اينډ، کېنټ، برتانيه

زمونږه ورکړه!

ادیرو ته مو د ژوند پورونه ورکړل
مونږ رندو له د ډیوو اورونه ورکړل

چې د کرکې په ازغو باندې مې ولي
دې لالي له ما بېګا ګلونه ورکړل
هغوی هم راوړل سکاره چې مونږه چا له
د بوډۍ له تاله ټول رنګونه ورکړل
څوک چې مونږه اوس د شپو زندان ته بیایي
دوی له مونږ د ستورو سپین کورونه ورکړل
ساقي اوس به په تا ټول رندان خبر کړي
شرابي یار له دې بیا پورونه ورکړل
چې د کومو کمڅو خوی دار ته ټل وي
په هغو کمڅو مو خپل سرونه ورکړل

۲۰۲۱/۱۲/۲۱

ګریوز اینډ، کېنټ، برتانیه

غزل

مــونــږه ولــیــکــل بــخــتــونــه د وخــتــونــو
زمــونــږ ســـــل زره کــیــســـــې دي د سرونــو

تــه د ورځو شـــپو حســـــاب لــه نور پېدا کړه
مــونــږ حســـــاب کــوو د ســــــتورو او لمــرونــو

مونږ د ورښـــــت د ټولو ځـاځکو کوربــانــه یو
ابــاســـــین یــو د ســــپــرلــو د بــارانــونــو

یــو لښــــکــر یو د صــــفــا د شـــــاه زلمــیــو
یــو احســـــاس یــو د یــو بــل د پــرهــرونــو

د چــا ســـــترپ خولــه کې ټکي د منني
یــو گــیــډۍ د چــا لــه کــوره د گــلــونــو

پــه رڼــا بــه یې پېړۍ وروســـــتــه پوهېږئ
زړونــه ســـــتــوري دي د لــرو اســـــمــانــونــو

د بـنـدار تـاوده لـه تـاســـو دي مـلـګـرو
د بـنـدار ډيـوې د ټـولـو لـه فـکـرونـو

د **اکـبر** فـکـر بـه وېشـــو پـه سرونـو
پـه ايـرو کـې بـه کـر وکـړو د اورونـو

۲۰۲۱/۰۳/۲٦
ګريوز اينډ، کېنټ، برتانيه

رباعي

زه هـمـدغـه يـم رقـيـبـه چـې مـې ګـورې
اوس دې خوښـــه ده چې اور اخلې کـه اورې
زمـا ذکـر د جـانـان د کـوڅـې ذکـر
ســـتـا خـبرې خـو يـا پـورې يـا راپـورې

۲۰۲۱/۱۲/۲۱
ګريوز اينډ، کېنټ، برتانيه

(زما یو بل غزل دی چې په «اتلې هیلې» کې خپور شوی، هغه داسې و چې:

تل به په دې غرونو کې زور پاتې وي
کور د پښتانه کې چې مور پاتې وي

هغه غزل ما په پښتنه مور لیکلی و او دا غزل ما په پښتنه لور لیکلی او په ټولو پښتنو لوڼو مې لیکلی دی)

غزل

تـل بـه پـه دې سـتورو کې نور پـاتې وي
کور د پښـتـانـه کې چې لور پـا تې وي

ښـار د ژونـد او مینې بـه ښـېرازه کړي
ښـار د مرګ او کرکې بـه چور پـاتې وي

نور دې د سـینا طور تـه خوشـحـالـه وي
مونږ تـه دې دا سـیوری د طور پـاتې وي

هره ورځ دې دا غرونه رېدي سپړي
هره ورځ دې دا سپرلي گور پاتې وي

غږ به يې د عشق ضمير ته ورسي
چغه به په دار د منصور پاتې وي

زر به د ماښام شفق ته وبخښي
رنگ به د نکريزو يې سور پاتې وي

څومره چې لمن د زرتشت سپينه وي
هومره به سوما کې سرور پاتې وي

غږ د لاهوتي سندرو پاتې شه
پاڼې دې د عشق د زبور پاتې وي

تومنه د رحمت خُم کې د لوره ده
دې خُم ته دې دغه انگور پاتې وي

٢٠٢١/٠٤/٠١

گريوز اېنډ، کېنټ، برتانيه

غزل

ســتا خـالونـه چې په يوه کوکۍ تـالان دي
دا د کـومـې بـنـجـاري لـه د دُکـان دي

بـيـا بـه زه د زړه ســودا درسره نـه کـړم
تـا چـې څـه لـه مـا پـېـرلي دي ارزان دي

يو څو ســتوري دې بنـدار تـه را ټولېږي
يو څو اوښــکې چې مې پېره د ګرېوان دي

دا ترخه بې ســتي ســتا د شــونډو نه ده
دا خــويــونـه دې د زرو د پــېـزوان دي

هـغـه لارې چــې د عشــق تـر کـوره رسي
هــغــه لارې د بــې لارو د تــاوان دي

چې د عقل حیرانۍ په کې ځان ګوري
دغه ستر ګې د هېندارو د کوم کان دي

زما اوښکو ته یې وکتل موسکي شول
د دې راغې ټول ګلونه د باران دي

زما فکر او له فکره جوړ دا ټکي
بل څه نه دي ځو خیالونه د جانان دي

دا به سترګې کړو په دې به هسک ته ګورو
دغه ستوري چې په ټنډه د اسمان دي

دغه یو څراغ چې وینې زما سبځي
په دې یو څراغ خو زر کوره ودان دي

د دې فکر څو ملګري سل او زر شه
په همدوی خو مو دا وران زړونه ودان دي

۳۰/۰۱/۲۰۲۱

ګریوزاینډ- کېنټ، برتانیه

غزل

چې د شــپو لـه تـورتمـونـو نـه خـبر یـې
زمـا لمره! تـه پـه کوم اســمان کې لمر یې

دا چې ســـا د هـرې میـنـې در مـاتـېږي
کـوم گـودر د جـلالا[۱] د مـــــــازیـگـر یـې

زه تر تـا درځم چې خپـل کور تـه رسـېږم
تـه زمـا د کـور پـه هـر دېـوال کـې ور یـې

تـه د هـرې بـنـدگـۍ پـه زنـدان بـریـد یـې
تـه پـه سر کـې د یـاغـي فـکـرونـو کـر یـې

زمـا لمـر تـر تـا درځـي پـر تـا پـرېـوځـي
تـه زمـا لـه کـلي تـېـر چـاپـېـره غـر یـې

[۱]. په پېښور کې د یوې سیمې نوم.

تــه د عشـــق د نـالـیـدلـو مـرانـدو مـزي
تـه د عـقـل د لـیـدلـو مـرانـدو سر یـې

تـه مې مینـه، تـه مې زړه، تـه مې تکـل یې
تـه ایلم، تـه مې پـامیر، تـه مې خېبر یې

تر مـا لر یې، تر مـا تـاو یې، تر مـا بر یې
زمـا هر څـه یې، کـه خـاورې یې، کـه زر یې

نېټه: ۲۰۲۱/۰۳/۲۹
ګریوز اینډ، کېنټ، برتانیه

قطعه

پـه هـغـه لمـر بـه اســـمان نـه رڼـوو
چـې خـپـلـې لارې رڼـولـی نـه شي
څـوک چـې تـر ځـانـه رڼـا نـه رســوي
هـغـه تـر بـلـه رڼـا ورلـی نـه شي

منامه، بحرین

ستاسې لارې
ستاسې خوښې

مونږ د حق لیکلو پرې په قلم ایښـــې
د منلو، نـه منلو خوښـــې ســتـاســې

یا له خپلو سـیورو مه تښــتئ ایســار شــئ
یا په لمر د ودر بدلو خوښـــې ســتاســې

مونږه غاړې خلاصــوو د خدای په وړا ندې
په دجال پســې د تللو خوښـــې ســتاســې

دا بــهـیر بــه تــر پـړاوه پــورې رسي
اوس د لارو د تړلو خوښـــې ســتـاســې

ځوک بـه ګـل کړي او ځوک بـه پرهر ځيرې
د کړلو او ځيرلو خوښـــي ســـتـاســـې

د ژوند خوی دې د مرګي ګور به راســپړي
د وتـلـو نـه وتـلـو خـوښـــي ســـتـاســـې

د هـېـواد د ورانـولـو لاس بـه مـات کـړو
د نظـام د بـدلولو خوښـــي ســـتـاســـې

مونږه پوی کړئ چې دېران د خوړو نـه دی
د خوړلو نـه خوړلو خوښـــي ســـتـاســـې

د رڼـا د خـورولـو کـار زمـونـږ دی
د تيـارو د خورولو خوښـــي ســـتـاســـې

نېټه: ۲۰۲۱/۰٤/۰۹
ګريوز اېنډ، کېنټ، برتانيه

پوره خپلواکي

افـغـان ازاد کـړئ لـه هـره جـغـه
کـه د نـظـام دی، کـه د مـلا دی

دواړه دروغ دي، کـار یـې خـطـا دی
نـه هـغـه سـم دی، نـه دا رښـتـیـا دی

یـو یـې بـېـبـاکـه، بـل یـې گسـتـاخـه
نـه د خـبرې، نـه د سـلا دی

شـیطان پرې خاندي، خدای ترې خپه دی
دنـیـا یـې لـوټ ده، دیـن یـې رسـوا دی

مـلا یـې وژني، نـظـام یـې وژني
یـو وایـي څـه شـو، بـل وایـي دا دی

لاسـونـه شـل دي، پـاپـې یـې مـاتـې
څـوک یـې راکـاږي، چـا تـه پـه شـا دی

رزق د ده دی، واک یـې د بـل دی
رزق د چـا دی، واک یـې د چـا دی

۲۰۲۱/۰٤/۲۷، گریوز اېنډ، کېنټ، برتانیه

غزل

د حیرت په آیینو کې خپل تصویر یم
ستا ککو ته پرون څیر ومه، نن څیر یم

یو پیوند د لوپټو او د شملو یم
دوه کړۍ د یوې مینې د زنځیر یم
هر سهر د ګل په پاڼو کې پرېوځم
هره شپه د بڼ د سپینو پرخو ویر یم
زه د کار او زیار انسان، د خولې ثاڅکي
د همت د را وتلو جوپو میر یم
د پلو روپۍ یې ټولې ما له راوړې
اوس نو زه په امیرانو کې امیر یم

زه د ځانه سره هره ورځ په جنګ یم
زه د دې نړۍ د هر سړي ضمیر یم

۲۰۲۲/۰۲/۰۸

ګریوز اینډ، کېنټ، برتانیه

غزل

ســتـا د مســتو لېونو ســترګو نـه ځـار یو
کـه د کـار یو نو کوکی دومره د کـار یو

هســـې ســتا د سرکو شــونډو شراب ځارو
ګنــې مـونږ خـو لـه کـورونـو نـه خُمار یـو

کـه اورونـه یـو نـو لارو تـه دې بـل یـو
کـه ایـرې یـو نـو ایـرې دې د انـګـار یـو

مـونـږ پـه بـره بـانـدې خـپـڅو عـالم څـارو
مـونـږ لـه بـره نـه د لانـدې عـالم څـار یـو

کـه غر بر دی نو د غره پـه سر کې لار ده
مـونـږ د غـره سر تـه ختـلـې هـغـه لار یـو

د ښــایســت د ازمېښــتونو ګواښ مو مات کړو
پــه ټــوټــو کــې د هــېــنــدارو مــخ د یــار یــو

هــډوک مــاتي یــو د ټــیــک د تــودو وړانــګــو
ســـتــا د تورو اوږدو څڼو پــه شـــپــه بــار یو

چې په شـپو شـــپو کې ګنډي د لمر زخمونه
مــونــږ د هــغــو ډیــوګــو د رڼــا تــار یـــو

مونږه ټولـه شـــپــه خپـل مړي تـه بلـېږو
مــونــږه ســـــوي څــراغــونــه د مــزار یــو

لــه کلونو چې پــه ښـــار کې د ښــــامــار یو
مونږ د خپل ښــار د ښــا مار مرګ ته ایســـار یو

نېټه: ۲۰۲۲/۰۲/۱۱
ګریوز اېنډ، کېنټ، برتانیه

ژوندون څه دی؟

ژوندون څه دی خو ویل یا اورېدل دي
یا کرل دي یا د خپل کره رېبل دي

هره شپه د ارمانونو خوب لیدل دي
هر سهر په ارمانونو پسې تلل دي

یا یې تیک یا یې خالونو ته کتل دي
یا تر لمره یا تر ستورو ور ختل دي

نه پوهېږو چې له کومه ځایه راغلو
نه پوهېږو چې تر کومه ځایه تلل دي؟

۲۰۲۲/۰۲/۱۳
کېنټ، برتانیه، روغتون ته پر لاره

له اسمان سره خبرې

ای! په سر ولاړ اسمانه
په اوږو دې وړمه ستنه

زما خپله ځمکه ځېله
زه د خپلې ځمکې ونه

ستا سپرلی له ما غوړېږي
زه دې گل یم زه دی غنه

پشکالی دې یم د ډډو
که شینکی دې له چمنه

کشمالی دې د ماښام یم
که بهیر یم له خُتنه

لــکــه تــخــم کــر تــه وتــی
لــه مــا ډکــه کــره لمــنــه

زه دې تــور تــکــی د کســــــي
زه دې خــال پــه ســــپــیــنــه زنــه

زه دې حســــن یــم ســـل مــخــی
زه دې مــیــنــه یــم ســـل تــنــه

زه د ســـتــورو رنــگ د اوبښــکــو
زه رنــگــونــو تــه کــتــنــه

نــو کــه دغســـــې حســـاب وي
نــو کــه داســـــې وي گــنــنــه

وایــه تــه مــې مــنــندوی یــې
کــه دې زه وکــړم مــنــنــه

نېټه: ۲۰۲۲/۰۳/۰۷
گریوز اېنډ، کېنټ، برتانیه

قطعه

دې پټې ته درمندونه راټول نه کړئ
دا پټې د درمندونو د تالان دی
تر هغې به دا ټولنه جوړه نه شي
چې تر څو په کې یو خان دی، بل دهقان دی

۲۰۲۲/۰٤/۰۲

ګریوزاینډ، کېنټ، برتانیه

قطعه

د اباسین شګې مو ټولې چاڼ کړې
اوس د نتکو دپاره زر لرو
زمونږ دوستۍ او دښمنۍ پخې دي
ملګرو مونږه خیر او شر لرو

۲۰۲۲/۰٤/۱۰

ګریوز اینډ، کېنټ، برتانیه

غزل

څــومــره خــبرې مــې پــه سر کــې لــرم
څــومــره دردونــه پــه ځــيــګــر کــې لــرم

شـــپــه مــې ابــد د خــامــوشـــيــو لــرې
شـــور د ازل مــې پــه ســـهــر کــې لــرم

پــيــل د وختونو مې ســـبــا کې نغښـــتــی
وېــخ[1] د وخــتــونــو مــــــــازيــګــر کــې لــرم

لا خو تســـکوره پــه تــنــدي کې ســـا تم
لا خــو شـــېــريــنــه مــې پــه غــر کــې لــرم

---

[1]. وېخ: تلی، بېخ، ريښه، جرړه.

د سره پېزوان له برېښنه زړه تودوم
چرته یو کور خو دې په لمر کې لرم

ستا د کاله پته مې زړه ته یاده
د خپل کاله پته په سر کې لرم

د کلي ټولې لارې ماته رسي
لوی پړاونه مې په ور کې لرم

زه د شانګلې د سر درو شهباز یم
وېړ اسمانونه په وزر کې لرم

یوه به ځاله په پامیر کې ساتم
یوه به ځاله په خیبر کې لرم

۲۰۲۲/۰٦/۱۱
ګریوز ایند، ګېنټ، برتانیه

زه او ته!

زه دې سترگه د شعور یم
توره سمڅه دې د طور یم
زه دې رنگ یم انځورگره
زه دې کوڅه د ظهور یم

زه موسکا یم ته مې گل یې
ته موسکا یې زه دې گل یم
زه دې یو یم ته مې ډېر یې
زه دې تار یم ته کاکل یې

نو زه څوک یم چې زه یمه
نو ته څوک یې بې د یاره
ولې یوائې یوائې گرځو
ته بې یاره، زه بې یاره

۲۰۲۲/۰۳/۲۵

منامه، بحرین

غزل

زور د فکر مې د چا له زوره نه دی
دا زما څراغ له بله اوره نه دی

زما یون زما د فکر د سپاره دی
زما یون د بل نیلي له سپوره نه دی

د ځنځیر او د بنګړو شور به یو ځای کړو
انقلاب مو دیوه له شوره نه دی

هر خُمار مې ستا د شونډو پوروړی
هېڅ خُمار مې د ساقي له پوره نه دی

زه به څنګه چا له سپینه لمن ورکړم؟
د لمنې تور که ستا له توره نه دی؟

دغه لمر چې تورو شپو ته نه ځلېږي
د دې لمر څراغ زما له کوره نه دی

ما د پلار غوندی له هرې بلا ساتي
که د مور غوندې جانان له موره نه دی

۲۰۲۲/۰۹/۱۸، ګریوز اېنډ، کېنټ، برتانیه

زما خوب

زما یو نظم دی چې زما په کتاب (اتلې هیلې) کې چاپ شوی دی. هغه نظم زما ډېر خوښ دی او اکثره شاعران تر ما په خپل کلام کې، کوکۍ او خوښۍ ناخوښۍ نه کوي؛ بلکې لکه خپل بچي ټول ورته یو هومره گران وي، ولې زه دلته له دې ډلې نه چې زه هم په کې یم، وځم او وایم چې په اتلې هیلې کې خپور شوی نظم زما خوبونه، زما ډېر خوښېږي او دا دی د همهغه نظم په شان یو غزل هم لیکم. هیله ده چې شاعران مې د دې گرمې، گنهگار و نه بولي او دا پوره کړې خوښه په اوسنۍ ټولگه کې داسې ور ټاله کړم لکه یو تېر شعر چې به په وړاندې د یوه نوي بنده سره دې ټولگې ته ورکووم. غزل دا دی:

غزل

زمـا خوب څو تنســـتې بو نې جـانـانـه
ســـتـا لـه شــــالـه یـا زمونږه لـه گریوانـه

زمـا خــوب د تــکـلـونـو یــو مــزل دی
لــه دې ځمکې نــه د ځمکې تر اســمانــه

زمـا خـوب د بـکـوا دښــــتـې تـه وتـل دي
مــلــغــلـرې ټــولــول دي لــه بــارانــه

زمـا خوب د تورو ســپینو خوشـــالي ده
وېش د عشـــق دی له انســـانه تر انسانه

زمــا خوب لــه مــا تېـدونکي عزمــه کرکــه
د عزمونو پــه پښـــو تلـل دي تر ارمــانــه

زمــا خوب د هر انســـان وږتيــا پــالـل دي
تــر يـوســـفـه پـورې درومــي لــه کـنـعـانـه

زمــا خــوب د نــن د ســـتــړو رســـول دي
د ســـبــا د بــهــيرونــو تــر ســـاروانــه

زمــا خــوب بــې کــوره خـلـکـو لـه کـورونـه
د دې فـکــر لــه بــې بــريــده لا مــکــانــه

زمــا خوب د امن وېش دی پــه دې ځمکـه
لــه افــغــانــه تــر يــوروپــه تــر جــاپــانــه

نو زمــا خوب د انســـانــانو خپـلواکي ده
د ســـتــم، لــوږو او جــهــل لــه زنــدانــه

تــه زمــا خــوبــونــه مــه اخــلــه لــه مــا نــه
اې! زمــا د انــځــور ګــري خــوب جــانــانــه

٢٠٢٢/٠٩/٢٠

ګريوزاېنډ - کېنټ، برتانيه

غزل

پـېـغـلـې پـه څـڼـو کـې بـاران غـواړي
د لـوپـټـو پـه ځـای گـرېـوان غـواړي

سـترگې يې ډکې کړې په سـپينو اوښـکو
يـار يې د سـپېنو مـا لگو کـان غواړي

هـغـوی د مخ لـه لمـره تـېښـتـه کـوي
څوک چې يې سـيوري د پېزوان غواړي

د عشـق بازار مې د زړه ښـار کې جوړ کړ
گورو چې څوک پـه کې دوکـان غواړي

مـا پرې د کلي ښـکلي بيـا خپـه کړل
خـو يـو بـد رنـگـه مـې ايـمان غـواړي

ټـول گـنـاهـونـه يـې د ځـمـکـې وکـړل
اوس پـرې اجـرونـه د اسـمان غـواړي

خدای به په دې کلي کې څه له اوسي؟
د کلي ټول خلک شیطان غواړي

چې یې په سلو زرو نه ورکووم
هغوی زما په سر غېران غواړي

اکبر له خرې ځمکې پورته ګوري
پښو له چتونه د اسمان غواړي

۲۰۲۲/۱۱/۱۵
ګریوز اینډ – برتانیه

څلوریزه

پرون چې راغلې، سبا به درومې
خو راغلې له کومې! ورځې تر کومې؟
لاره دې خپله، لوری دې خپل دی
ژوندون دې خپل دی چې څه یې نومې

۲۰۲۲/۱۲/۰۵
ګریوز اینډ – برتانیه

د ضمیر کړکۍ

ضـــمیر کـړکـۍ ده، کـړکـۍ پـرانـېـزئ
لــه دې را رسي، د رڼــا څــیــره

پر بېږدئ چې وا خلو نور لـه ضــمیره
نــه لــه مــلا نــه، او نــه لــه پــیــره

نــه لــه لــیــډره، نــه لــه امــیــره
نــه لــه قســـمــتــه، نــه لــه تــقــدیــره

کــه دا مــو وکــړل د لــوی تــدبــیره
انســـان بـه خلاص کړو لـه هر زنځیره

۲۰۲۲/۱۲/۱۲
حیات آباد، پېښور

د ژوند جوړه!

ژوندون نور څه دی؟
خو یوه جوړه ده

د عشق او حسن
له پلار و موره

مونږ یې وحشت کړو
مونږ یې ذلت کړو

د بې مهاره
حرص له زوره

۲۰۲۲/۱۲/۱۵
حیات آباد، پېښور

رباعي

هر کـاتـه مې شـــه د یـار د را تلو لوری
هر یو لیـک مې د اشـــنـا د نـامـه توری
یـار مې ځمکـه ده او زه د ځمکې ســـتوری
زه د یار یم، که یې لمر یم، که یې ســـیوری

سهار مهال ۲۰۲۳/۰۵/۱۰
گریوز اېنډ، کېنټ، برتانیه

قطعه

دا چې پـه جنـگ کې منجیلي[۱] خرځوي
ده تـه د مـرگ او ژونـد تـوپـیـر نشـــتـه
دا د روزۍ پــه ویــر اخــتــه زلمـوټـی
د ده پـه کـور کې بـل څـه ویـر نشـــتـه

---

(۱). په هغې ویډیو لیکل شوې قطعه چې په کې یو زلموټی پښتون هلک د گرمو ډزو په وخت کې هم د روزۍ په ویر اخته دی او هلته چې بل هر یو تن په ډزو کې له مرگه تښتي، دی په کې خپلې منجیلې خرڅول غواړي. **ډاکټر اکبر**

«او زه دا ټول ګورم»[۱]

مـخـونـه بـه بـیـا ښـــکـول شي
روغـــبـــړې بـــه بـیـــا وشي
جـــنـــډې بـــه ورپـــي
او چـــغـــې بـــه پـــورتـــه شي
ځـــو ســـولـــه بـــه را نـــه شي
ځکه چې ســـو له په شرطونو راځي
او شرطـــونـــه نـــه پـــوره کـــیـــږي!

نـــو نـــه بـــه ســـولـــه راشي
او نه به د هغې ابۍ زوی راســـتون شي
چې د ســـولې په نوم جنګ، شـــهید کړو
خـــو ســـولـــه را نـــه غـــلـــه

[۱]. د فلسطیني شاعر محمد درویش د شعر تر شا له پراته فکر سره ما په دې شعر کې خپل فکر یو ځای کړی؛ ځکه چې جنګ ټول خوري، که هغه د هرې سیمې انسان وي!! **ډاکټر اکبر**

د زلمـــي مــور بــوره شـــوه
مــېرمـن يــې کــونـډه شـــولـه
پــلار يــې بــې زويــه شـــولـو
او د يــوه يــتــيـم لمســــــــي

ســـپـين ږيــري نـــيـکـه
پــه ســـپــيــنـه ږيـــره
بــانـدې اوښـــکــې تــوئ کــړي
خــو ســـولــه را نــه غــلــه
او نــه هــغــه ځـــوان راغـــی
چــې جــنـګ شـــهـيـد کــړو!!

لـــور، پـــلار لــه مـــوره غـــواړي
مـــور يـــې پـــه غـــټـــو ژاړي
او زوی يـــــــې
د زنـځـيري لـيـکـې پـه دواړه غـاړو
د لارو د لاســـه پـيـټـي اخـلي
چــې ځــو روپــۍ جــوړې کــړي!

نو ما هغوی ولیدل
چې څوک د سولې په نوم
جنګ پلوري
او هغوی هم ګورم
چې څوک د جنګ د پیسو پور پرېکوي!!

۲۰۲۲/۱۲/۲۷
حیات آباد، پېښور

ژوند او ادراک

ژوندون څه دی خو ادراک دی
د مماڼو او د پچو
له مرګي نه ژوند پېدا کړي
لامده وسېزي په وچو
مونږه وشاربې، ته ټول کړي
خیر و شر لکه د کوچو

یو څو بنده!

خـبرې تـولـې ورنـه وروســـتـه کـېـږي
پرېکړې چې څه وشـــوې په سر کې وشـــوې

ای! د دې ځـمـکـې خـلـکـو څـه وکـړمـه؟
د اســمان لوبې مې پـه غر کې وشـــوې

چــې د دې کـلـي تــر بـلـو ورغـلــې
هـغـه خـبرې مــې پـه ور کــې وشـــوې

پــه ســبــانــی ورځــې د بـريـد د پـاره
د شـــپو لښـــکرې پـه ســـهر کې وشـــوې

چــې د پـېـړی د پسرلــو زېـري وو
هغـه غوټی مې پـه پرهر کې وشـــوې

۲۰۲۲/۱۲/۲۹
گريوز اينډ، کېنټ، برتانيه

غزل

یو لاس به په ستورو ږدم، یو لاس به په لمر ږدمه
چرته به مې شپه ږدمه چرته به سهر ږدمه

وینې مې ګلونه دي، فکر ابدي لرم
خاورې زما وسپړه خاورو کې مې زر ږدمه

ټوله ورځ مې خپله ده، پل د رڼاګانو یم
چرته به سهر ږدمه، چرته مازیګر ږدمه

سترګې د پېرېو یم، غېږ د یار مې ومونده
یاره ځنګل لاندې کړه، دې خوا شه چې سر ږدمه

ستورو کې ایلم ږدمه، ستورو کې شانګله ږدمه
ستورو کې پامیر ږدمه، ستورو کې خیبر ږدمه

نه دې له ازله یم، نه دې تر ابده یم
دنګ دې کړه د وخت دېوال، زه به په کې ور ږدمه

۲۰۲۳/۰۵/۰۱
ګریوز اېنډ، کېنټ برتانیه

ژوند

ژوند د پېښو يوه کيسه ده
ژوند د پيښو يوه بدله

د يوې پېښې له تنه
رابېلېږي پېښه بله

کله سره توده غرمه شي
کله سيوری له ځنگله

کله ستنې د بارخو وي
کله گل شي له وربله

کله توره گوره شپه وي
کله سپینه ډیوه بله

دلته هر پل یوه لاره
دلته هره لار له پله

اسویلی دی راوتلی
د مین د زړه له تله

ژوندون څه دی خو بند کور دی
ور یې بند دی له ازله

له دې وره اخوا څه دي
ای! د وره د زنځیر وله

لږ مې پوی کړه بې له مرگه
لږ مې پوی کړه بې اجله

۲۰۲۳/۰۵/۳۰

عشق او عقل

عشق د خدای د لاس هنر دی
دا د ژوند په ځمکه کر دی

چې پرې نن تر سبا رسي
دا د هغه دېوال ور دی

عشق په ژوند کې پټ گوهر دی
عشق د ژوند خاورو کې زر دی

عشق د عقل د اوج نوم دی
عشق د پوهې د هسک لمر دی

عقل غر د عشق د ډډی
عشق د عقل د غره سر دی

عشـــق د عـقـل رنـګـین خـوب دی
عشـــق پـه عـقـل کـې اوتـر دی

چـې شي ځـای د سر ښـــنـدنـې
عـقـل لـر دی عشـــق پـرې بـر دی

د یـــوې ابـــې بـــچـــي دي
یـو خســـــــــي دی، بـل یـې نـر دی

۲۰۲۳/۰۵/۳۰

رباعي

زه د یـوه حـکـم یـوه ځـېـره یـم
یـوه ځـبـره یـم خـو یـوه پـېـره یـم
بیـا یـې پرې ایښـــې یمـه خپـلواکـه
کـه زه د کـر شــم، کـه زه مـېـره یـم

عجیبه لوبه

عجیبه لوبه دې پیل کړه
عجیبه لوبه دې کېږي
کله نښه دې ښکاره شي
کله نښه دې ورکېږي

افسونګره، جادوګره
خپله خوله، خپله سندره
اشارو کې دې پوره کړه
که نیمګړې وه خبره
د چمونو کشمالي دې
د سپرلیو ورمې ویشي

د گودر اوبه دی سپينې

پلوشې لري د لمره
د پلو پېڅکي دې وينم
له يوه غره تر بل غره
هر يو کاڼی مې لېمه دي
هره تيږه مې کپره
کله مخ په لېچو پټ کړي
کله وگوري له وره
څه ناڅاپه راښکاره شي
لکه پېښه نا ببره

٢٠٢٣/٠٨/٠٨
گريوز اينډ، کېنټ، برتانيه

زمونږه لارې، د تمدن لارې دي!

مــونــږه د ځــمــکــې خــلــک
چـــې چـــرتـــه درومـــو
هــلــتــه مــو لارې درومـــي
او هلته، زمونږه تمدن تللی دی

نــــــــــو!

ورځـــــې بــــه راشي
چـــې مـــو دا تمـــدن
ســـــتـــورو تـــه لارې وکـــړي
او مــــــونــــــــږه
تـر ســـپـيـنـو، ســــتـورو پـورې
وخـــــوځـــــيـــــــږو!!

بـيـا بـه زمـونـږه د فـکـرونـو وزر
تر لــــرو ستورو پورې بره ورشي
او مونږ بـه، د کـائـنـاتو منځ کې
لکـه ويـا لې لـه خوږه و بـهـېږو

۲۰۲۳/۱۰/۰۵ گريوز تينډ، کېنټ، برتانيه

غزل

شـــپه پـه تېر بدلو ده چې لمر دې شــم
پرا مې نيــــــزه گروه، چې ســهر دې شـم

ســـتړې شـــوې د ژوند د ســيالۍ منډه ده
ډډه راتــه ووهــه چــې غــر دې شـــم

و مــې شــــينــده تــخــم د گــلـونـو يـم
پرېږده چې په خپل پټي کې کر دې شـــم

کښـــې مې نه، پيتاوي ته چې گرمه شـــې
لا بـه دې توده کړمـه چې لمر دې شـــم

جـونـې بــه پــه لـپـو مـنـگـي ډک يـوسي
ســينده! لږ رغی شـــه چې گودر دې شـم

وگــــوره د ژونــــد لاري تـــر ما رســـــي
ځـه چې د کـالـه د چنـې ور دې شـــم

تـیـک یـم پـه مـا تـورې څـنـې وخـنـده
دوړې به یی ښـکول کړمه چې زر دې شـم

دا پـېـړۍ د فـکـر د ســـیــالــیـو ده
زړه مې شه خو پرې مې ږده چې سر دې شم

ښۍ ګڅ دې شم، لر دی شم او بر دې شم
ســـتــا د لېونو ســـترګو نظر دې شـــم

ګریوز اینډ، کینټ، برتانیه ۲۰۲۴/۰۲/۱۹

نا څرګند بهیر

د ژونـدون بـهیر پــه کوم لوري ور درومي
دا له خپل سیوري تر کوم سیوري ور درومي
ځي لـه دې بریـده تر بلـه وړانـدې بریـده
اوس له ځمکې نه تر بل ستوري ور درومي

۲۰۲۴/۰۵/۰۲

جفیر- منامه، بحرین

غزل

تــر اســـمانــه دې د ځــمـکــې لاره زه یــم
ســـتــا د حســـن د حیرت هېـنـداره زه یم

ویـدې شــپې دې د ســبـا تر پېښــو رسي
د ســـبـــا د هـــنـــګـــامــو نـــنــداره زه یــم

ســتا د ټیک له بریښـــه، بریښـــم رڼا کېږم
کــه د تــور وربــل لــه تــوره تــاره زه یــم

د ژونـدون او مرګ د ښـــار واکمني ســتا ده
د ژونــدون او مرګ لــه لویــه ښـــاره زه یم

سـمنـدره! سـتـا کـاسـه پـه مـا ډکېږي
پـه څـپـو کـې د اوبـو دې داره زه یـم

لـکـه تـه چې نـاوزګـار یـې، نـا وزګـار یـم
کار د عشـق دی او د عشـق له کاره زه یم

نـه د لـتـې جـنـتـي ښـکـلا نـه جـوړ یـم
نـه تـر مـورګـو لـه ورغـلي نـاره زه یـم

سـتا د سرو شـونډو په څوکو خوله د چا ده؟
سـتـا د شـونـډو پـه تومـت تر داره زه یم

د ژونـدون او مـرګ د لـوبـو ازمـېښـتـګـره
د ازمـېښـت د هـر پـړاو د پـاره زه یـم

سـتـا د جـنـګ د ډګـر هـره چـاره زه یـم
لښـکر زه یم، وسـلـه زه یم، نـاره زه یم

۲۰۲۴/۰۲/۲۴
ګووز اېنډ، کېنټ، برتانیه

د شاه زلمي هوډ

زه مې د سر په دښـــمنـانو هم کرم کومه
د مينې مـاتو رقيبـانو تـه مې زغم کومه

چرته چې نور د ځان په غم کې وي ځانونه ســاتي
هلتـه زه کـار کووم غـمونـه د عـالم کومه

ته دې زخمونه، د زړګي زخم ته ښـــه رالنډ کړه
زه مې د زړه زخم پرېږدمه ســـتا ملهم کومه

زه چې ور ېږم په ګلو نو، يوا ځې نـه ور ېږم
زه لکـه پرخـه په ازغو بـانـدې هم نم کومه

ما د دښـــمن تورې په تشـــو لاســـو ماتې کړلې
اوس بـه د زړه خبرې ټولې پـه قلم کومه

زه مې د جونو د ګودر اوبه په لپو ښبنمه
که اودسونه په چینو کې د زمزم کومه

زه د غلیم د کرکې لمر ته هم خپل سیوری لرم
زه به په لمر کې یم خو سیوری په حرم کومه

زه د انسان د نوغې درد په خپلو ولو وړمه
زه د شیطان مخکې خبرې د آدم کومه

د زمانې غوندې را نغاړمه د پښو اغېز
د زمانې غوندې که تګ په جام د جم کومه

اغیار که کوږ ځي نو اغیار په خپل فطرت ور درومي
زه به مې تګ د عشق په نېغو لارو سم کومه

که نور تر ستورو پورې درومي او کلونه غواړي
خو زه تر ستورو پورې تګ په یو قدم کومه

زه به د ښار په غلو له غلا نه هم قسم کومه
په ښامارانو به د نه چیچلو دم کومه

۲۰۲۴/۰۳/۰۹

اسلام اباد

د ژوند لوبه

کــه زمــا لــه دمــه نــه ده
نــو د ژونــد لــوبــه د څــه ده

کــه زمــا بــد او ښــــه نــه وي
نــه د بــدو نــه د ښــــه ده!!

څــڅــېــدلــې نــیــمــه ســــوې
یـــوه ډوډۍ د تـــنـــاره ده

څــه پــتــیره، څــه تــروه ده
څــه اغــــږلـــې، څــه وږه ده

چــرتــه شـــگـــه د ســـیـــنـــدونـــو
څــه د ســـیــنــد د مــنــځ اوبــه ده

خپل مخونه په کې ګورو
که هېنداره زمونږ نه ده

نو که زما له دمه نه ده
د ژوندون لوبه د څه ده

نه د عقل د کتاب ده
نه د بخت د کوم مرغه ده

د زلمو چم ته راغلې
دا جینۍ د کوم کاله ده

چې نه پېغله، نه وږه ده
نه پخه ده، نه زړه ده

۲۰۲۴/۰۳/۱۳، حیات آباد، پېښور

هېنداري مه ماتوئ، خپل مخونه جوړ کړئ!

ژوند د داسې بند بندي دی!!

یوه ځغاسته لالـــــها نده، یوه منډه در په در
ژوند د داســـې بند بندي دی، نه دېوال لري نه ور

ژوند نښــتی دی مهال کې، د وختونو په یوه جال کې
د مکان او ځای جنجال کې، نه یې پښــې ښــکاري نه سر

نه دې تېر شـــې بدلولی نه راتلونکی در مالوم دی
که ارزښـــت دی نو د اوس دی، څه ســهر څه مازیګر

نه یې څوکه، نه بلې شـــته، په لمن کې یې ازغي دي
تر اســـمانـه پورې رسي د تودو اوســـېـنو غر

هره لوړه یې ســـاه ماتې، هره ځوړه یې سر ماتې
د کمر پـه سر کې لار ده او پـه لاره کې کمر

د فکرونو یوه ســـیالي ده، د مهال ډګر کې ځغلي
د بایلونکو برخې خوارې نه یې خاورې نه یې زر

تضـــادونـه دي جګـړې دي، لـه ازلـه تـر ابـده
مونږه وشـــاربي، کوچ ټول کړي یا د خیر شي یا د شر

ژوند د عقل د کور وینځه، په ښـکلا او عشـق یې پلوري
که یې دا سـودا و نه شـوه، نه د لر ده نه د بر

ژوند کیسـه د رسـوایۍ ده یا د زخم سـپړودل دي
یا د پیغلو ګرېوان څېره، یا وښـکـي د خپل پرهر

چې لـه دغـه کوره وتي، د مرګ چم تـه ننوتي
څه د مرګ ښـار کې ورپېښ شـول نه یې پته نه خبر

عـجـیـبـه انـځـور ګـري ده، د بـقـا پـه لـویـه دړه
چې نه لاس د انځور ګر شـته، نه یې ښـکاري انځور ګر

له دې ځمکې ورکتل دي له ګونګو[1] ستورو پوښتل دي
ګنې شـپه ده او تیاره ده، له ماښـامه تر سـهر

پارونې یې مجهولې، خو غبرګون مو ښـکاره غواړي!
څو مره لویـه لوبـه کېږي، څـه وړو کی زمـا سر

۲۰۲۴/۰۳/۱۸
حیات اباد، پېښور

[1]. ګونګ په دوو څېو چې لږ کش شي او ماتوالی له منځه لاړ شي.

اشنا ماشوم دی!!

اشــــنا مــاشــــوم دی
پــه عــــقـــل اوم دی
پــه ښـــکــلا مــوړ دی
پــه مــیــنــه شـــوم دی
اشــــنا مــاشــــوم دی
اشــــنا مــاشــــوم دی!!

اشــــنا مــی گــل دی
لـــه ازغـــو ډک دی
کـــلـــه د لـــک دی
کـــلـــه د کــک دی
کـــه دی و دریـــږي
اغـــیـــار تـــه ښـــکـــاري
کـــه دی پـــریـــوځـــي
اغـــیـــار یـــې خـــاري

سر يې د کانې
زړه يې د موم دی
اشنا ماشوم دی
اشنا ماشوم دی

غل يې پرېښی
خو مل رانيسي
ډېوې به وژني
خو ځل رانيسي
نېز ته ور دانګي
يو خل رانيسي
څڼې يې جړ کړې
وربل رانيسي

خپه تصوير دی
انځور د ګروم دی
اشنا ماشوم دی
اشنا ماشوم دی

یار مې تیاره ده
زه یې ډېوه یم
یار توره شپه ده
زه ټول دمه یم
دی د سپوږمۍ ځل
زه تود یم لمر یم
د ده لا ملا یم
د نورو سر یم

زه ټول خرګند یم
دی ټول موهوم دی
اشنا ماشوم دی
اشنا ماشوم دی

زه مقتدي یم
دی مې امام دی
زه یې د غالي
دی مې د بام دی
که زه ډېوه یم
دی مې رڼا ده

کــــه زه بـــاران یـــم
دی مـــې بـــرېښـــــنـــا ده

بـــیـــا هـــم لـــګـــیـــا دی
وایـــــي چـــې کـــوم دی
اشــــنـــا مـــاشــــوم دی
اشــــنـــا مـــاشــــوم دی

اشـــــنـــا ګـــودر دی
زه یــــې اوبـــــه یـــم
کـــه شـــتـــه یم ، شـــتـــه دی
نـــه شــــتـــه کـــه نـــه یـــم
بـــیـــلـــتـــون لـــه زه یـــم
وصــــال لـــــه بـــل دی
خـــو ښـــنـــګ یـــې پـــرېـــږدم
جـــانـــان مـــې خـــپـــل دی

زمـــــا لالــــــی دی
زمــــا پـــــه نـــــوم دی

اشـــنا مـاشــوم دی
اشـــنا مـاشــوم دی

دی دې زمـــونـــړه
د جـــوپـــو مـــیر شي
مـــونـــړه بـــه سر شـــو
دی دې ضـــمـــیر شي

دا چـــم بـــه بـــېـــرتـــه
پـــه مـــیـــنـــه مـــوږ کـــړو
دا بـــام بـــه جـــوړ کـــړو
دا بـــرج بـــه جـــوړ کـــړو

د کـــور ښـــتـــن دی
ښــــه را مـــالـــوم دی
اشـــنا مـاشــوم دی
اشـــنا مـاشــوم دی

۲۰۲۴/۰۳/۱٤ .منامه، بحرین

د ژوند پېټۍ

پېټۍ د ژونـــد درونـــد پـېـټۍ
دا پېـټۍ بـــــــه وړل غواړي
نــــــــــــو دا لاره اوږده لاره
خـــــــــو دا لاره وهل غواړي

زړونــــــــــه بـــه کتل غواړي
پهې ابښــــــــــــودل غواړي
زخـــــــــــــــم رغول غواړي
ډېــــــــر ځــــه به کول غواړي
نــــــــــــو دا لاره اوږده لاره
خـــــــــو دا لاره وهل غواړي

ســــــــــــتوري تـــيارو وخوړل
اوبښــــــــــکې ځـــلول غواړي
هـــــيلې يــــــــــخ وهلي دي
زړونـــــــــه بــــــلول غواړي
نــــــــــــو دا لاره اوږده لاره

خـــــــــو دا لاره وهل غواړي

فـــــــــــکر کې منات پالو
زړه کې ســـــــــــومنات پالو
بیا به خـــــــدای منل غواړي
بیا ایـــــــمان راوړل غواړي
نـــــــــــو دا لاره اوږده لاره
خـــــــــو دا لاره وهل غواړي

واړوئ د شـــــــپو ځـمـــــکه
بـــیا رڼـــــا کـــرل غواړي
پورتـه کړئ د پوهې تــــــــوغ
هر کتاب ســـــــپړل غواړي
نـــــــــــو دا لاره اوږده لاره
خـــــــــو دا لاره وهل غواړي

هـــــــر یــو غـــورځېدلی دی
هـــــــر یو مرگ نـــــتلی دی

لاس د انســـــــــان ونیســـئ

تــــول پـــــــورتــه کول غواړي
نـــــــــــــــو دا لاره اوږده لاره
خـــــــــــــو دا لاره وهل غواړي

هـــــــــــــر خــیر غوړول غواړي
هـــــــــــــر شـــر ماتول غواړي
هـــــــــــــر غل بـه نیول غواړي
هـــــــــــــر اتـــــل پالل غواړي
نـــــــــــــــو دا لاره اوږده لاره
خـــــــــــــو دا لاره وهل غواړي

تــولې ســـــرچینې د ژونـــــــــد
یـــــو هومره وېشـــــــل غواړي
یـــــو ځای غورځـــــــېدلي یو
یـــــو ځای پاڅـــــــېدل غواړي
نـــــــــــــــو دا لاره اوږده لاره
خـــــــــــــو دا لاره وهل غواړي

هـــــره وړتـــیا وســــــــــــتایئ
هـــــر انســـــــــان پالل غواړي

هـــــيڅ ډېـــوه به نه وژنــو
تـــــــولــې بــلول غواړي
نــــــــــــو دا لاره اوږده لاره
خــــــــــو دا لاره وهل غواړي

لټ کلـي بـه شـــړ پـريـږدو
کار پســــــــې وتل غواړي
مات کــــــړئ د ريا بـــــوتان
دا تـــــــــــقوا کول غواړي
نــــــــــــو دا لاره اوږده لاره
خــــــــــو دا لاره وهل غواړي

نو ژوند د درونـد ازمېښــت پېټی
خـــــو دا پېټی به وړل غواړي
نــــــــــــو دا لاره اوږده لاره
خــــــــــو دا لاره وهل غواړي

۲۰۲۴/۰۵/۰۶

ژوند

ژونـــدون یـــو تـــرنـــګ دی
دا د چـــا رنـــګ دی؟

تـــر ځـــمـــکـــې وتـــی
تـــر هســـــکـــه دنـــګ دی

د ځـــواک جـــنـــون دی
د واک یـــو جـــنـــګ دی

ویـــنـــه پـــرې خـــیـــم ده
د تـــورې زنـــک دی

یـــــوه نشـــــــه ده
بـــوټـــې د بـــنـــګ دی

د مـــین اوښـــــکـــې
د مـــالـــګـــو درنـــګ دی

له زور او شوره
د ده غورځنګ دی

ډېر د بیلتون دی
لږ يې د څنګ دی

د خان شمله ده
د فقیر لنګ دی

څومره راټول دی
څه چنګ و ونګ دی

چرته خوشال دی
چرته اورنګ دی

چاته ښايسته دی
چاته بدرنګ دی

۲۰۲۴/۰۶/۲۷
منامه، بحرين

یوه غوښتنه

د بنګړیو په کودرو کې دې تم یمه
د والیو په کور دی ما وپاله
ته د شرنګ د خولې یوه سندره یې
د سندرو په شور دې ما وپاله

د ژوندون تر چمه دې لاړ شمه
د مرګي تر غمه دې لاړ شمه
د ازمېښت لوبې دې په ما وشي
په اوبو او اور دې ما وپاله

په دې لوخو لاسو د تورو خرپ
په دې شلو پښو مې د منډو ترپ
اوس به وزغمم د بېلتون تغمې
خو د مینې په زور دې ما وپاله

که د ســپینې خولې دې زه غل یمه
د دېوال د ســیوري دې مـل یمـه
تـه پـه تور ســـالو کې مـا ونغـاړه
پـه دې هر یو تور دې مـا وپـالـه

چې د خُم ملو تـه دې ودرېـدم
ته د پور د پاڼو حســـاب ته شــوې
د نشـــې پـه روکو مې مـه پېره
څـه د ملو پـه پور دې مـا وپـالـه

ته چې وایې چې وشي نو وشــولو
زه چې غواړم چې وشي نو نـه کېږي
چې څـه کېږي تر هغو مې درولـه
بیـا پـه نورو او نور دې مـا وپـالـه

مرکزي لندن، بېټر سي، برتانیه
۲۰۲۴/۰۷/۰۵

دا زما د هېواد پېغلې!

دغه ستوري، ستوري سترگې
دا سپوږمۍ، سپوږمۍ مخونه
دا زما د هېواد پېغلې
دا زما د کلي جونه

په سرونو يې منگي دي
په لاسونو کې سيندونه
په شرشمو څڼې ډکې
په رېديو وربلونه

سره يې پېڅکي د شالونو
زر زري يې تاويزونه

د ښایست تر ساقي راغلو
په بدرنګو یرغلونه

په خُمانو کې به تش کړو
د پخو کورو تاکونه[۱]

خدایزده کوم بابا له بیا ځي
تور پړوني، سپین مخونه
چې په ورځو کې ښکاره شول
ماښامونه، سهرونه

۲۰۲۴/۰۷/۲۶
مرکزي لندن، بېتر سي، برتانیه

[۱]. د پخو کورو تاکونه، یانې د پخو انګورو تاکونه او څانګې.

یوه ګیله!

مونږه دواړه دوه هینداري
د یوې څپې دوه داري

خو لا لرې یو له بله
لکه دوه سره د لارې

په پړاو کې رانه ورک شې
که په پل کې راته ښکارې

لکه دوه سترګې د ستورو
لکه دوه سوې انګارې

لکه زه له سینده دې خوا
لکه ته له سینده پارې

زه دې ورځې درته ځغلم
ته مې شپې شومې کرارې

زه د سرو ګلونو کر، یم
ته د ګلو د کر چارې

کاش په کر، کې راسره وې
چې له غرونو نه مې ثارې

نو لږ زما تر کوره راشه
چې زه ټول شم درنه وارې

چې زه غبرګه کړم سندره
ته ټپه شې یکه ځارې

زه دې کسې د کتو شم
ته مې چغې او کوکارې

چې په زړه د بېلتون پرېږدو
د ازغن بارخو نوکارې

مرکزي لندن، بېټر سي، برتانیه
۲۰۲۴/۰۸/۲۵

غزل

مرور جانان له ورمه سوغاتونه
څه خواږه دي، څه ګلونه، څه شعرونه

ساقي ته دې شراب پلوره، مونږ يې پېرو
که جوړېږي، که ورانېږي زمونږ خونه

پېغلې سرې شونډې په تورو څڼو ساتي
پاړوګر ښامار پوکي اخلي لالونه

چا يې ټيک په سپين تندي د پاسه کېښود
چا د لمر په بلې بل کړل څراغونه

سره پړوني په ګودرو راښکاره شول
خدای دې وساتي اورونه او سيندونه

ستا د مينې عمر ټول د څو شيبو دی
څه يې ورځې، څه يې شپې، څه يې کلونه

زه د یار په سر ولاړیمه اسمان یم
ځمکه پای چې ولاړ وي اسمانونه

څه تندې، څه یې خالونه، څه مخونه
څه سپوږمۍ شولې، څه ستوري، څه لمرونه

ډسمبر ۲۰۲٤، لندن- بېټرسي
د سیندغاړه

قطعه

نه ژوند پړاو دی، نه مرګ پړاو دی
دا دواړه لارې، دا دواړه چارې
ژوند هم اوبه دی، ژوند هم څپې دي
ژوند د اوبو نه، خړلې دارې

سهار، بېټر سي، مرکزي لندن
۲۰۲۴/۱۱/۱۵

نړیوال کلی

خیر د سـرېتوب تـــه چې وتلی دی
هغـه قام پـه ځـمکه کې ښـاغلی دی

دا چې هر قــــدم په نوې ځمکه ږدي
دا زلمی د کــومــو ســـتورو پلی دی

پـښتـی د انســان د درد پـرې کېږدوئ
ولی مې د خــــدای د ځمکې ولی دی

ستوري، سپوږمۍ، ځمکې پرې رونبانه شول
دا لمر لا پـه کوم اســمان ختلی دی

ځئ چې پـه شریکـه پـه کې واوســو
کلی د نړۍ پـــه سوله ښــــکلی دی

لندن ببېتر سي، برتانیه
۲۰۲۴/۱۲/۲۴

یوه پوښتنه؟

پوښتنه دا ده چې څوک ځواکمن دی؟
نفس زواکمن دی که روح ځواکمن دی؟

نفس له تنه، تن مې له خاورو
اروا یې زه یم نفس مې تن دی

دواړه یې یو کړل، ژوند یې ترې جوړ کړو
یو یې وګړی، بل یې وطن دی

وګړي تلی شي له خپل وطنه
که په کفن وي که بې کفنه

ژوند یو ازمېښت دی ژوند یو مهلت دی
ژوندون د مرګ دی، یو امانت دی

۲۰۲۴/۱۲/۲۹
سهار، منامه، بحرین

په شګو کې د پښو خاپې

یو سـرې د سـمندر پـه‌غـاړه تلـلو
د پـل خـاپی یې لـه شـګو جوړېـدلو

هره شـګـه ترې سـیلۍ را بېلوله
باد په منځ د شـګو ګل کې چلېدلو

ځل د لمر د سـرې ځټ ته مخامخ وو
د تن سـیوری یې پـه وړانـدې پرېوتلو

د کجورو د تېرو څـانګو پـه منځ کې
د سـهر لمر کــرېـدلو، خورېـدلو

د اسـمان تر را پرېوتو لرو پېڅکو
سـمـنـدر د اوبـو مـورګـو رسـولـو

د اوبو د پـاسـتـه لاس پسـتو ورغوو
لکـه مور، د لمر بچوړي مخ وینځلو

لاروی پـه خپـل قـدم بـانـدې روان وو
نـه لـه تـګـه، نـه لـه لمـره کـړېـدلـو

چې په دې کې د پل خاپې داســې ګڼ شــول
لکه څوک چې د ســـړي په قدم تللو

لاروی ودرېـد پرېوتي پـل تـه ځير شـــو
چې نـاڅـاپـه يې يو لاس پرېوت پـه ولو

لاس هم دروند وو او هم پوســـت وو تر مالوچو
نـه يـې زور کـاوو نـه لاس وو د زورلـو

لاروی لاس ته ور ځير شـــو مل يې ولید
خدای يې مل وو چې جوړه ورسره تللو

یو ناڅاپه یې ټول ژوند ســـترګو ته تېر شـــو
تا و يل جوړ ژو ند ور ته ځان ورغبرګولو

ګڼې پېښـــې ازمېښـــتونه د ژوندون وو
دې يې بيـا پـه ازمېښـــتونو ازمـا يلو

خو هم هلته به د پل خاپونه دوه شـــول
چې بـه کلـه دی پـه ســختو لارو تللو

لاروي اخـیر لـه خـدایـه ګـیـلـه وکـړه
لږ مې پوه کړه د خپل پل په ورکېدلو

ستا رحمت لـــه ما نه هلته چرته لاړ شي
چې لار ســـختـه شي زمـا دازمـا يـلو

ته ما پربږدي او پښـــې را کاږې له تګه
ګټـه څـه ده لا د داســـې غبرګو تللو

خدای موسکی شـو د بنده سـترګو ته ځیر شـو
لکه لمر چې شـــپې ته ځیر شي په کتلو

و یل یې هلته ما د رحم غېږ کې یوړې
چې پـه کومو لارو تـه نـه وې د تللو

دا چې تا ته خاپي دوه ښـــکاري په لار کې
دا زمـا خـاپي دي هلتـه ســـتـا د وړلو

منامه، بحرين ۲۰۲۵/۱۰/۲٤

ژوند او بدلون

ژونـــدون بـــدلـــېږي
او پـــه بـــدلـــېدو يـــې
ژونـــدي بـــدلـــېږي
بـــدلـــون ډېـــر ښـــــه دی
خـــو چـــې د واک وي
بـــدلـــون ښـــــه نـــه دی
چـــې سر ايـــلـــه وي
او چـــې کـــاواک شي

خـــو ژونـــد بـــدلـــېږي
ځـــکـــه پـــايـــېږي
او چـــې څـــه ژونـــدون دی
نـــو دا بـــدلـــون دی
چـــــــــــــــــــــې!
څـــه راکـــې ورک کـــړي
او څـــه پـــېـــدا کـــړي
څـــــه پــــروني شي
لاړ شي او ورک شي

څه ننني شي
په نن کې راشي
څه ننني شي

څه د بېګا شي
او څه پروني شي
يا سباني شي
خو!
سبا يوه هيله
چې:

يا پوره کېږي
يا سپېره کېږي
يا به څه وشي
يا به و نه شي
يا به څوک دروند کړي
يا به يې سپک کړي
يا به څوک شته کړي
يا به يې ورک کړي

۲۰۲۵/۱۱/۲۴، منامه، بحرين

غزل

کړاونـه د دې ځـمکو د دهقـان دي
خو د کلو ځمکې ټولې د دې خان دي

پـه فـکـرونـو، قـلـمـونـو بـنـديـزونـه
په دې ښـار کې نښــې واړه د زندان دي

شل يې پښې، شل يې تنې، شل يې لاسونه
ټول پراته دي که يو څو په کې روان دي

ځئ پـه جگو ډډو خيژو چې يې ځـارو
نښـــانې په ســمندر کې د توپان دي

هره لاره د پيکو يې گوره شــپه شــوه
دا خالونه دي که ستوري د اسمان دي

چې په غبرگو ور کتی ښــکلو ته نه شــو
ړندې ښـې دي که مو سترگې د ارمان دي

ټول کانه يوو له پېړيو ورته ناســـت يوو
که په چم کی را ته چيغې د آذان دي

وايي شـــپه ده په کور کېنه چې رانه شــې
دا خبرې د بېلتون کـه د جـانـان دي

هســـی نه قلم دې مات نه کړې **اکبره**
ســتـا فکرونـه د څو تنو د تـاوان دي

۲۰۲۵/۰۳/۲٦
منامه، بحرين

رباعي

که گوزار دی په انســـان با ندې گوزار دی
کـه د ډرون کـه د بمـونـو دی خـو وار دی
دوه يې پښې دي، دوه يې لاس دي، يو يې سر دی
بس زمونږ غو ندې انســـان زمونږ مختار دی

۲۰۲۵/۰٦/۱۲
منامه- بحرين

غزل

جوړې دا هم د ازمېښـــــت تر ډګر لار ده
چې د مـیـنـې هـره چـاره دې پـه دار ده

دا څـراغ د رڼـاګـانـو تسـلسـل دی
د ده سـتـرګه د سـبا د سـتـرګې څار ده

چې د یخو شـپو تورتم ته سـره نه شـوه
دغـه څـیره د دې ورځـې د سـهـار ده

د بـري او د لـري پـړاو یـې نشـتـه
ژونـد د تـګ او تـیـنـدکـونـو یـوه لار ده

زه دې ډېره ښـکلا غواړم ته ښـېرې کړې
دا خـبره د دعـا کـه د ازار ده؟

د غه سر دې ســـودا پالي دا به مات کړو
ده لــه ســـتــا د کوځې يوه تيږه پکــار ده

خـلـک ټـول دې دم ويـده کـړل پـاړوگـره
خـزانــه اوس د ښـــــارونــو د ښـــــامــار ده

ولســـونــه ورتــه نــاځــي گـوډاگـيـان دي
چې د چا په لاس کې ځوکه د دې تار ده

دلته څه دي خو ســودا د ښــايســت کيږي
د مــهــال پــېــړۍ د ويــنــزو د بــازار ده

نو دا خبره چې پـه خولـه کی د ريبـار ده
دا د چـا ده؟ دا د يـار کــه د اغـيـار ده

۲۰۲۵/۰٤/۰٤
منامه- بحرين

ژوند، ځای او مهال

دا چې مونږ ته نه څه ښکاري
لا به ډېر څه په کې شته وي
چا ويل چې ژوند په ځغل وي
ټول مرګونه به ويده وي

ژوند د خير او شر يوه لوبه
لا خو پوه نه يو چې څه دي؟
چې پېښېږي راته ښه دي
کنه، نه پېښېږي ښه دي

د مکان ډګر پراخه
په کې وړاندې وروسته تله دي
خو د وخت په چاپېريال کې
مخکې تله او خوځېده دي

۲۰۲۵/۰۴/۰۸

منامه، بحرين

نو ما یو خوب ولیده!!

چې لمر را وختلو
او ورځ روښانه شوله
او د تورو شپو نه تیاره
په شا روانه شوله
نو ما یو خوب ولیده
چې د اسمان بلۍ ته وختلم

او ما...

د سهار سترګې له مې لاس ورکه
وریځې مې وشیندلې
رڼا مې وویشله
نو د یاغي ګناه

وبال پوره شو
نیمګړی پاتې نه شو
اخیر مې خیال پوره شو
زما له وینو جوړ شو
د نتکۍ لال پوره شو
تندي یې ډک ښکاره شول
د ښکلو خال پوره شو
ایله ور ورسېدم
خیر دی که کال پوره شو
نو ما یو خوب ولیده!!

۲۰۲۵/۰٤/۲۲
منامه، بحرین

زه او پتنګ

زه سرور یم، زه غرور یم، زه شـــعور یم
زه یې خال یم، زه د خال په کاله چور یم

زه ســـبا یـم زه د هـیـلـو بـهـانـه یـم
پـه دې ځمکـه کې د پوهې خزانـه یم

زمـا ژونـد د شـــپـو، د ورځـو د کـلـونـو
هســـتـوګـن یمـه د واک د مـحـلـونـو

پـه پـېـړو پـېـړو ژونـدی یـم او یـادېـږم
نـه پتنـګ، نـه یې ایره یم چې بـادېږم

پتنګ وایي چې دی مړ شو نو مرګ پړ شو
خو زه وایم چې څوک پړ شـــو هغه مړ شـــو

نو بیا څله ای پتنګه! ته ځان ســـېځې
را ته وایه ځان د څه په ګومان ســـېځې

د ډیوې له رڼا تاو شـــې او لمبه شـــې
ســـوی لوی شـــې او تکه توره شـــپه شـــې

خـو پـتـنـګ راتـه یـو ځـو خـبرې وکړې
زه حیران شـــوم چې ایرو خبرې وکړې

ده ویـل دا د ژونـد لوبـه ده چې کېږي
دا د عشـــق د لېونتوبـه ده چې کېږي

پـه لمبو کې دېوه ځـارم ځـار مې وشي
سر ښـــند نه زما کار دی کار مې وشي

زه چې ځومره یار ته رســم ځو شـــېبو کې
ته‌هـمدومره ورنیژدې شـــې زرو شـــپو کې

تـه چې څـه کوې د ســلو کـالو دم کې
زه هـغـه کـارونـه کـړم پـه یـو قـدم کـې

نـو دا ځـکـه خـو تـه پـایـې پـه کـلـونـو
زمـا ژونـد دی د دېـوې د ځـو پـېـرونـو

نو اوس، ته د یار د ګټې شـوې که زه شـوم
راته وایه چې ته ښه شوې که زه ښه شوم

۲۵/۰٤/۲۸
منامه، بحرین

غزل

تخیـل مې ســـتـا د څېو د خیـال زړي
دا زمـــــا د ژونـدانـه د جنجـال زړي[۱]

ځنګوه مې وېړ فکرونـه پـه کمڅو کې
ســتـا کمڅۍ شـــه د فکرونو د تال زړي
تول ســـپرلي لـه دغـه زړي نـه غوړېږي
دغـه زړي د ســـپـرلـیـو د کـال زړي
چې لـه سرو وینو یې سره اخلي لالونـه
ولـې نـه دي شي دا زړه مـې د لال زړي
ما د شـــونډو رنګ په هر ثواب کې توی کړو
ثـــوابـــونـــه تـــوکـــوي د وبـــال زړي
د لمنې تـک وهلې رو پـۍ وېشـــــــي
یـارانـه یې شـــوه پـه چم کې د مـال زړي
بیا به شـــین نه شي د عشـــق د زوال زړي
زه پـه خپـل کور کې کرم د مهـال زړي

۲۰۲۵/۰۵/۰۶، منامه- بحرین

---

[۱]. یادونه: زړي او زړه دواړه په دې غزل کې د منشا او Origin په سیمبولیکه مانا راغلي دي.

اباسین

اباسینه! در پرېوځم
خو چې لاره لنډه نه شي
که زه داره د ښپې یم
که زه لاره د ښپې یم
که زه تاؤ دې د غولۍ یم
که زه چاره د ښپې یم
دا ښپه دې تانده اوسي
ستا دې داره لنډه نه شي
اباسینه! در پرېوځم
خو چې لاره لنډه نه شي

د ښپو سره دې دروم
د ښپو سره دې مل یم
زه د مرګ په کور یرغل یم
زه د ژوند د جنګ اتل یم

ســـــتـا تــر ښـــــار درغــلــې لاره
لــه ښــــامــاره لــنــډه نــه شي
ابــاســـيــنــه! در پــرېــوځــم
خــو چـــې لاره لــنــډه نــه شي

زه بــه يمــه خــو تــل نــه يــم
لـکـه تـا غـونـدې ســـل نـه يـم
زه د خــپــل کــنــډولي خــاوره
زه پـه هـر خُـم کـې مـل نـه يـم
چـــې دا چــاره لــنــډه نــه شي
ځــه بـــې واره لــنــډه نــه شي
ابــاســـيــنــه! در پــرېــوځــم
خــو چـــې لاره لــنــډه نــه شي

زه لـــه هـــره زوره تـــنـــګ يـــم
زه د هــرې مــيــنــې ځــنــګ يــم
دغــه دنــګ غـرونـه چــې ګــورې
لــه دې ټــولــو نــه زه دنــګ يــم
چـــــې د وخـــــت د زورورو
لــه اخــتــيــاره لــنــډه نــه شي

ابــاســـيــنــه! در پــرېــوځــم
خــو چــې لاره لــنــډه نــه شي

کـه‌څـه شــور دی د ﺑﻨګړو دی
کــه څــه ځــل دی د والــو دی
پـه مـا پـور د خُـمار نـه شـــتـه
کـه څـه پـور دی د پـيـالـو دی
يــوه شـــپــه مــې درسره ده
چــې بــې کــاره لــنــډه نــه شي
ابــاســـيــنــه! در پــرېــوځــم
خــو چــې لاره لــنــډه نــه شي

زه بـه لمر د ســپين ســهر شــم
په ســـپېدو به اســـمان پټ کړم
زه بــه شـــګـــه شــــم د غــاړو
پـه اوبـو بـه دې ځــان پــټ کــړم
زه بــه زور د خـــپـــې درکــړم
ســـتـا دې داره لــنــډه نــه شي
ابــاســـيــنــه! در پــرېــوځــم
خــو چــې لاره لــنــډه شي

زه به ستا څپو ته پل شم
زه به ستا د څپو مل شم
بیا به تور پېکي ته ول شم
بیا به سپینې خولې ته غل شم
زه به پټه لاره څارم
چې له څاره لنډه نه شي
اباسینه! در پرېوځم
خو چې لاره لنډه نه شي

په جهان د پوهې چاره
دا په ځان د پوهې چاره
په بېلتون د پوهې هڅه
په جانان د پوهې چاره
یوه چاره مو راخستې
چې دا چاره لنډه نه شي
اباسینه! در پرېوځم
خو چې لاره لنډه نه شي

دغه لار د لېونو ده
د دې لارې پراو نه شته

دا پــه شـــوق تر ذوقــه تلـل دي
پــه دې تــګ کې کړاو نــه شـــته
د زخــمــونــو يــوه مــوســـکــا ده
لــه پـــرهـــاره لـــنـــډه نـــه شي
ابـــاســـيـــنــه! در پـــرېــوځــم
خـــو چـــې لاره لـــنـــډه نـــه شي

کــه زه بــرېښ شـــمــه د ورېــځــو
کــه د ســـپـــيـنـو اوبـو چــړ شـــم
د پــاېښـــت لوبــه خو ســـتـا ده
بــيـا دې هــم لــوبــې تــه اړ شـــم
د ســـاه تــار مــې تــا نــيــولــی
ســـتـا لـه تــاره لـــنــډه نــه شي
ابـــاســـيـــنــه! در پـــرېــوځــم
خـــو چـــې لاره لـــنـــډه نـــه شي

۲۰۲۵/۰٦/۰۹
منامه- بحرين

غزل

صــحـیـفـه لـولـه د مـیـنـې لـه کـلامـه
ای! د وخــت د لـېـونـو د صـــف امـامـه

زمونږ تنـدې تـه د څو گـامونو لار ده
کـه وا ټن د ســـلو کـالو وي تر جـامـه

د بېلتون پـه تورو شــپو بـه یرغـل وکړو
مــلا مــې وتــړه د تــورو څــنـو لامـه

د ښـایســت غرور د عشــق په غرور پټ شـه
د بورجـل ســیوري دې ورسي تر بـامـه

چا د ورځې ا مانت په تاخ کې کېښــود
چـا د لاســـو ډیوه یووړه تر مـاښـــامـه

د ایمـان ســودا یې وکړه پـه محراب کې
اوس بـه درشي تـر مـنـدره پـورې رامـه

ټول خواږه د مـاړه خېټې تـه ور درومي
هســـې خوځي پرې د وږي انســـان ژامه

اوس به ته هم لکه ستړې شپه اوده شې
که کیسه مې د لمر تېره کړه تمامه

نو لږ خو راشه د سپوږمۍ د کور تر بامه
ای! زمونږ د چم د مړو ډیوو مابنامه

۲۰۲۵/۰٦/۱۵
منامه، بحرین

څلوریزه

څه ښه وایي د یوروپ سپین ږیری پویه
چې ژوندون د هوښیارانو عذاب بویه
چې د خپل کاله او خپل سکونه نه وووت
بس هغه انسان راونیوله لویه

۲۵/۰۷/۲٦
سهار، منامه- بحرین

چرته يم او چرته شوم؟

نه دې په انځور کې يم
نه دې د زړه کور کې يم
نه دې په ايرو کې يم
نه دې لا په اور کې يم

نه دې د کور غالی شوم
نه د بلی سر ته شوم
نه د کور چنې ته شوم
نه د کوټې ور ته شوم
نو ته وايه چې چرته يم؟
ته وايه چې چرته شوم؟

نــه دې د ســـهر شـــومه
نــه د مــازيــگـر شـــومـه
نـه د ســينـد غولۍ شــومـه
نـه د ســينـد گودر شــومـه

نــه دې لا د خــاورو شـــوم
نـه دې چرتـه زر تـه شـــوم؟
نـو تـه وايـه چـې چـرتـه يـم؟
تـه وايـه چـې چـرتـه شـــوم؟

ځمکـه نـه شـــوم کر دې کړم
لاره نــه شـــوم ور دې کــړم
پښـــه دې د قــدم نــه کــړم
تــش د ســـودا سر دې کــړم

نو - نه تر هسـکه سـترگې شـوم
نــه بــره نــظــر تــه شـــوم
تــه وايــه چــې چــرتــه يــم

تــه وایــه چــې چــرتــه شـــــوم

نــه د ســـــپوږمۍ داغ شـــومــه
نــه د لمــر څــراغ شـــــومــه
نــه د جنون دښـــــتــه شـــوم
نــه د گـــلــو بـــاغ شـــومــه
اوس هـــم لالـــهــانــده یــم
لر تــه شـــوم کــه بر تــه شـــوم
تــه وایــه چــې چــرتــه شـــــوم

۲۰۲۵/۰۳/۰۹ سهار لس بجې
منامه- بحرین

د خوبونو له انځوره!!

د خوبونو له انځوره
نه له زره، نه له زوره

یو انځور زما په کار دی
ګنې شپه راته پرته ده

را ته پروت د شپو ښامار دی
نو هر خوب دې راته ښایه

شپه اوږده ده خوب دې وایه
ګنې مرمه له شوګیره

د دې ژوند د درد له ویره
هسې نه شوګیر مې مړ کړي

او زه هم هغه څراغ شم
چې دې تورو شپو ته سوړ شوم
او ایله تیرو ته جوړ شوم

۲۰۲۵/۰۳/۱۶

منامه، بحرین

زما مور او زما پلار

ما ژبه له موره زده کړه
پلار مې راته زور وښود

خو مور مې د ژوند لوری وښود
پلار د هېواد مینه راکړه

او مور مې راته کور وښود
پلار جومات، حجرې له بوتلم

مور مې راته لوری ښود
مور د انسان مینه ښوده

مور مې د خدای سیوری ښود

پلار تر ښوونځي بوتلمه
مور مې د لیک توری ښود

نو ټول ژوندون می مور راکړی
پلار مې ژوندون وساته

دا یون راته مور ښودلی
پلار مې دا یون وساته

کلی راته مور را وښود
پلار مې دا تون وساته

۲۰۲۵/۱۰/۱۶

نو ژوند بدلېږي!!

مونږه به درومو
نور به را درومي
ژوندون یوه چاره
د درومېدو ده
ژوندون یوه لاره
د کړلېچونو
د وړاندې تلو ده
د بدلېدو ده

او مونږ مخونه
د یو څو دندو
مونږه څو دندې
د یو څو چارو
او دغه چارې

زمــونــږ ژونـــدون دی

نــو نــه مــخ پــایـــي
نــه چــارې پــایـــي
دواړه بـــــدلـــــيږي

خــو تــر مــخــه لانــدې
او تـــر چـــارو اخـــوا
هــر څــه پــه ځــای وي
هــر څــه پــر ځــای دي

او دا هــر څــه څــه دي؟
دا هـــغـــه آرې
چـــې نــه بـــدلـــيږي
خــو ژونــد بــدلــيږي

نــو دا چـــې بــدلــيږي
دغـــه يـــې مـــخ دی
او دا ژونـــدون دی

او چې نه بدلېږي
دغه پایښت دی
او د پایښت دود دی!!
پایښت جوت دی
دود یې جوت دی
دا نه بدلېږي!!

خو ژوند بدلېږي
په وړاندې درومي
په چاپېر چل کې

او چاپېرچل مو
یو لوی انځور دی
د بدلېدلو
چې مونږ په کې یوو!!

۲۰۲۵/۰۳/۱۸
بحرین، منامه

په تيارو کې غږ

ای! د نیمو شپو جانانه
ای! په دښتو کې بارانه
د بېلتون شپې مې رڼې شه
ستا له ټیکه له پېزوانه

د لاسونو ډیوګۍ دې
تا له کومه کوره راوړه
د سپرغیو لمبګۍ دې
بیا له کومه اوره راوړه

ســـتـا د ځـنـو وږم خـور دی
لـه دې ځـمکې تر اســـمانـه
ای! د نـيـمو شـــپو جـانـانـه

هـــلــه هـــلــه ګـــڼ وربـــږه
ګـنـې تـنـدې لـېـونـی کـړم
اســـوېلو ته شـــين لوګی شـــه
چې مې ځان در ســـپېلنی کړم

انـځـورونـه مـــې را ګــڼ کــړه
د هـــېـــنـــدارو لـــه دې کــانــه
ای! د نـيـمو شـــپو جـانـانـه

ځـه! پـه کـال کې خو پوره کړه
د کــلــونــو ســـوګــنــدونــه
پـــه دې لارو راتـــه ښـــايـــه
د قـــدم پــرېــوتي پــلــونــه

چـا لا ببـلـه کـړي لـه مـا نـه
لـــکـــه چـــغـــه لـــه اذانـــه

ای! د نیمو شـــپو جـانـانـه

کـلــه تــه کــور تــه را اوړې
کــلــه زه کــور تــه در اوړم
کــلــه تــاو د لمــبــو راوړې
کــلــه زه کــور تــه اور دروړم

نـــــیم په نیمه انځور جوړ شـــو
نیم لـه تـا نـه، نیم لـه مـا نـه
ای! د نیمو شـــپو جـانـانـه

تـه دې شرنـګ د بنګړو راکړه
زه بـه رنـګ د اوښــــکو درکړم
زه لـه تـا بـه پـه تـا درشــــم
تا به ور[1] کــــــړم تا به غر کړم

زه دې لاره تـــر پـــړاوه
زه دې چـغـه لـه ســـاروانـه
ای! د نیمو شـــپو جـانـانـه

---

[1]. ور: دروازه، دړه.

زه د غـره تـر څـوکـي ځـغـلـم
تـه مــې چـغـه د ویـر بـولــې
د ویــدو اوړدو شـــپـو خــوبـه
ما دې شــپه د شـــوګیر بولې

ته په تور ســـالو کې نغښـــتې
تـــر وربـــلـــه پـــرېشـــانـــه
ای! د نېمو شـــپو جـانـانـه
د بېلتون شــپې مې رڼې شـــه
ســـتـا لـه ټیکـه، لـه پېزوانـه
ای! پـه دښـــتـو کـې بـارانـه

۲۰۲۵/۰۷/۲۰
منامه، بحرین

هېنداري مه ماتوئ، خپل مخونه جوړ کړئ!

لکه څه؟

لکه ګل په بوټي پايي
لکه بوټی په باران
لکه ځمکه په لمر شته ده
لکه ستوري په اسمان

لکه دوه غبرګې غوښتني
لکه دوه غبرګې پوښتني
داسې غبرګې غبرګې کېږي
لکه سترګې د جانان

څه مې نيسي په تاوان
څه به پوی کړې ما په زيان
دا زمونږه لېونتوب دی
کله عشق، کله هجران

کله رنګ د موسکا پلورم
کله شونډې د يار ګورم
زه د حسن انځورګر يم
ما پرانېستی دی دوکان

نـــابـــبره زړه تـــه لار کـــا
لکــه لمســـــه د شـــيطـان
داســـــې پرلـه پســـې کېږي
لـــکـــه رحـــم د رحـــمان

چې د غم څپـه يې راشي
پـه هلمنـد راشي توپـان
د ببلتون ســـيلۍ يې يوسي
شـــګې شـــګې دا ســيســتان

يو مې سر دی يو مې ځـان
سر در ځار کړمه که ځان
ســـتا پـه يوه کاته به وکړم
ســـــوداګـــانـــې د ايمـــان

د ســـپين غر تر څوکو راغلل
د وريـــځـــو خـــړ اوښــــــان

پـه تنـدي يې خولـه راغلـه
پـه پـېـکـي وشـــو بـاران

غر د عشـــق د رســـوا يېو
لاړه ورغښـــــت تـر دامـان
لـــــکه ترنګ د رباب پورته
لـکـه ډول وهــي ډمـان

لـکـه تـاو د غـرمـو ســـوزم
ورځ مــې ټـولـه د تـاوان
خو په شپو کې ځان راټول کړم
لـکـه ځـل د کـهـکشـــان

پـه تـودو مـورچـلـو خـپـژم
لـکـه نـنـګ وي د افـغـان
لاس تر لرو ســـتورو وړمـه

لـکـه عـزم د انســـان
نـو ډيـوو بـل کـه څـراغـان
ســـتورو راوړ کـهکشـــان
ما د اوښـــکو امېل جوړ که
پــه تــارونــو د ګــرېـوان

۲۰۲۵/۷/۲۵، منامه- بحرين

غزل

گـوټ مـو وکـړو د بـڼـو غشـــو لـه آبـه
اوس دعـا غـواړو د وروځـو لـه مـحـرابـه

ســتا گلاب شــوندې به اوړي پاڼې پاڼې
تـا بـه لـولمـه د يـار د مـخ کـتـابـه

څنـگ د مخ کتـاب دې پرانيزم رقيـب تـه
څنـگ دې ورکـړم حوالې د کتـاب بـابـه

تـه پرانيســتې څڼې راشـــه مـاران راوړه
مـونـږه روږدي يـوو د زهـرو لـه عـذابـه

زه د ښـــکلو کور تـه ځـمـه ورتـه گورم
مـا تـوبـه وکـړه د نـفـلـو لـه ثـوابـه

ســـاقي کـډه زمونږ چم لـه راوړه راغی
مـيـکـده شــوه لـه کـورونـو نـه خـرابـه

په سرونــو دې د زړونـو واکـمنــي شي
لار دې ځــارمــه د زړونــو انــقــلابــه

د محشــــــر ورځ به راپیل شي له حســابه
کـه زمونږه نغمـه سر شـــوه لـه ربـابـه

۲۰۲۵/۰۸/۰۲م
منامه، بحرین

څلورېزه

تـه بـه څـه زمونږ ځواني لـه مونږه تروړې
منګي شـــته، ګودرې ډېرې، جونې ډېرې
چې تر څو پورې پـه خپـل کلي دېره یوو
پـه مونږ زړه مـه خوره زمونږه خونې ډېرې

۲۰۲۵/۰۹/۰٤
منامه، بحرین

ته، تندر، باران او نیز

دا لــــره لــــره
ځمکـه بـه ســـتـا وي
دا بـــره بـــره
اســـمان د بــل دي

ځمکـه بـه ســـتـا وي
خـــو لـــره نـــه ده
لـــره پـــه دې ده
چـــې د ټـــول کـــلي
پـــه کـــې غـــوبـــل دی
اســـمان د لمـــره
خـــورلـــې ځـــل دی
چې څوک دې مـل دی
هـــم هـــغـــه غـل دی
ټـــول درتـــه چـــل دی
هســـــې دې ټـــل دی

بېلتون يې ستا دی
وصال د بل دی

خو دلته ژوند دی
د ژوندون لارې
يو يې ازمېښت دی
ګڼې يې چارې
څپه يوه ده
ډېرې يې دارې

لار دې يوه ده
لورې دې ډېر دي
لمر په کې يو دی
سيورې دې ډ ېر دي

ته په کې څه کې
څه په کې غواړې
پرېکړه دې خپله
عزم دې خپل دی

۲۰۲۵/۰۸/۱۸، سهار، منامه، بحرين

یوه غوښتنه!!

ته خو پوی یې ځکه لوی یې
ما هم پوی کړې ما هم لوی کړې

د ښـــلـو خـوی دې راکـړی
لږ دې ما هم په دې خوی کړې

چې په دښـتو وږم خور کړي
ما د هغه غاټول بوی کړې

ما د جونو منګوټو ته
لکه لپې ګودر توی کړې

ټول انسان په ما راټول کړې
څوک مې لور کړې څوک مې زوی کړې

۲۵/۰۸/۲۹

سهار، منامه- بحرین

ژوند او مرګ

دغــه اور چـــې دلــتــه بــل دی
دغــه اور هــلــتــه هــم بــل دی

مــرګ د نــورو ســـیــالــو هــڅــه
مـرګ د نـورو سـیـالـو ځـغـل دی

ژونــد د مــرګ پــه لارو شـــل دی
مــرګ د ژونــد پــه لارو شـــل دی

ژونــد د ژونــد تــر هســـکــه مــنــده
مــرګ د ژونــد د ځــمــکــې تــل دی

چې د ژونـد شـــو مرګ تـه غـل دی
چې د مرګ شـــو ژونـد تـه غـل دی

ژوند د ودې يو پړاو دی
مرگ پړاو دی خو بدل دی

ژوند د دې لارې يو پل دی
مرگ د دې لارې بل پل دی

دغه يو د څنډو ول دی
هغه بل د څنډو ول دی

۲۰۲۵/۰۹/۰۱
منامه، بحرين

قطعه

ژوند خبر لوڅی، مرگی بې ژبې
وړا ندې چوپتیا ده ځنګل که ګڼ دی
څه ورته پېښ شول مړي ګونګيان دي
اوبه ترې توی شوې لاس کې يې چڼ دی

غزل

په تندي کې تانده اوســـه شـــينکي خاله
د ا يمان ســـودا مو وکړه ســـتا له خيا له

لـه بېلتونـه مزل داســـې تر وصـــالـه
لکـه څوک جنـت تـه بوځي لـه پـاتـالـه

جوړ غوړېږي يې په شـــنو ځانگو کې امن
چـې مـرغـو راوړه زمـونږ تـر ونـو جـالـه

چې کمال غواړي نو غم د زوال نـه‌کـا
د زوال بـلا سر وخـوري لـه کـمالـه

د هـغـو د بـچـو ژونـد وده ونـه کـړه
چې قســـمـت يې ابـا وليکـه لـه مـالـه

د خوب روږدي ولســـونه به ويښ نه شي
تر يـا جوجـه، تر مـا جوجـه تر دجـالـه

لمر بـه ځـنګـه پـه هغـه کلي را خېژي
چې رڼـا پـه‌پور کې غواړي لـه مشـــالـه

د ربـدو ورږم پـه تهول هېواد کې خور شـــو
د پلو غوټـه يې پرانيســـتـه لـه شـــالـه

د ګـلـونـو ځـولـۍ ډکـه ورلـه راغـلـم
پسرلـي دې يـاران ونمـانځي تر کـالـه

مونږ تـه بيـا پـه لويـه لاره کې پـل کېږده
مونږه پـل اخلو د يـار د پـل لـه تـالـه

ورځ د کار په زوږ پيدا شـــوله نو ورځ شـــوه
شـــپه د خوب لـه خاموشـــيو نه پرکاله

۲٥/۱۰/۱۳
منامه، بحرين

غزل

ای! څښتنه د پګړۍ او د دستاره
ته خبر يې ما شپه تېره کړله ناره

د بچو او د مېرمن ډوډۍ مې نه وه
نو زه لاړم غلا مې وکړه له بازاره

ته واکمن يې کار، کالي، ډوډۍ په تا دي
ما به بيايي يا تر کاره يا تر داره

له کاله نه، له مکتبه، له جوماته
له محرابه، له منبره، له مناره

يوه چغه پورته شوې ده واکداره
له ولسه، د ولس له دغه ښاره

يا د واکه دې لاس را کاږه په شا شه
يا د خلکو سره سپينه دې کړه لاره

۲۰۲۵/۱۰/۱۵

منامه، بحرين

څه وشول او څه کېږي؟

کــلــه حســــن يــې پــټــېــږي
کــلــه مــيــنــه يــې پــټــېــږي
يــوه پــټــه لــوبــه وشـــوه
يــوه پــټــه لــوبــه کــېــږي

خــو بــېــلــتــون ښـــکــاره ولاړ دی
زغــل د لــويــې مــيــنــې وشـــو
غــل د مــيــنــې نــيــول کــېــږي
هــره مــيــنــه پــالــل کــېــږی
هــره مــيــنــه څــارل کــېــږی

لار اواره نه ده کاږ دی
زه د یار کلي تر کلي ځمه
ما مې لار وکړه زه پل یم
که په ګونډو یم خو یمه
ستا د هرې سیالۍ مل یم

خیر که ټول ولس ویجاړ دی
د نظر په ویړو لارو
زه په وړانګو کې یون غواړم
دا تورمخې چاپیر چل مې
له پیتاوي نه رڼ غواړم
ورځ پخبږي او اهاړ دی

٢٠٢٥/١١/٢١
منامه، بحرین

موخې !!

د مهال او وخت تر منځه
له مکان تر لا مکانه
ټولو ښکلو ته ور رسه
له وصاله تر جانانه

د ژوندون د خندا دومره
فاصله ده له ژړا نه
لکه څومره چې واټن وي
له ګلونو تر بارانه

ګل د بڼ دې مړاوی کېږي
ای! د ګل د بڼ باغوانه
له دې لمره ګڼل پرېږده
لړ يې وګڼه له ځانه

زما ترينده جنونه
ای! د دښتو سرګردانه
د خپل غره تر سره ورشه
پل دې يوسه تر اسمانه

ځه د نيمو شپو ټپه شه
ور رسېږه تر جانانه
د جرس د ټلۍ غږه
له کاروانه تر ساروانه

د اغيار ټولو نادودو
چرته نه کړې پرېشانه
خو د يار وربله ماته
په کک وران په کک ودانه

خپلې ســـترګې داســـې ســـېځي
لکــه برېښ وي لــه برېښـــنا نــه
د کــوکــۍ د اوګــۍ نــه شـــوی
ای! د ســـپـــيـــنـــو زړو کـــانـــه

د پــېــرو پــه پــړاو تــم يــې
لاره نــه اخـــلـــې لــه مــا نــه
مـــزل پـــاتـــې دې کـــاروانـــه
هــم لــه مــا نــه، هــم لــه تــا نــه

۲۰۲۵/۱۲/۰٤
منامه، بحرين

غزل

ځئ د فکر ډېوګۍ کړئ ورته بلې
اندېښـــنې مه شــه د عشــق د لارو ملې

د بېتلون شــپې په مینو شــه اســانې
لکه ځنې د تندو په ځمکه تلې

ته زما د ژوند د شــپو هغه رڼا یې
چې ډیوه شـــی او تېرو کې راته ځلې

اوښــکې داســې د ګریوان تر تاره لاړې
لکه پرخه یې په شــنه کبل ځملې

زه د یار په ځنګل دغســې اوده وې
چې کیســې مې ورته نېمې پرېښــودلې

کاش! د چا د ټیک رڼا مې کور ته راغلی
چې دا شــپې یې لکـه ورځې رڼولې

تـه راتللې، پټېـدلې، ښــکارېـدلې
زه دې داســـې پـه بېتلون کې کړولې

زه دې مینه ټوله ســتایم ته گونگۍ یې
کاش! دا مینه ما ســتایلې، تا ســتایلې

ته د گل غوندې موسـکۍ وې تا خندلې
زه د پرخې غونـډې پـټ پـټ ژړېـدلې

د وصــــال یوه زر کلنه شــپه دې راشي
بیا دې یخ ماښـــام دا گرمه ورځ نیولې!

ای! زمونږ لـه محبتـه گیلـه منې
تا دا زړه چرته زمونږ په عشــق نتلې؟

لېوني تـه دې د زړه تنـبې پرانیزه
بې لـه پتې دې تر کوره رســېـدلې

منامه، بحرین
۲۰۲۵/۱۲/۱۵

غزل

زما فکر چې بې فکرو ته ځلېږي
له دې یوې ډیوې نه زر ډیوې بلېږي

لمره ته یې د رڼا دودونه خپل کړه
څراغونه مو په نیمو شپو ځلېږي

ځینو خلکو ته د فکر ورکړه داسې
لکه ورښت چې په ازغو باندې ورېږي

پېړۍ وشوې چې دا شپې په مونږ دیره دي
پېړۍ وشوې چې زمونږ ډیوې بلېږي

د هلمند سیند په چپو چپو بهېږي
د بکوا دښتې وچېږي او وچېږي

۲۰۲۵/۱۲/۱۶

منامه، بحرین

ارمانونه مو پوره دي که لا نه دي!!

کـاش! د مـخ د رڼـاګـانـو سـهـر راشي
د ښـایسـت لمر تـه د مینې نظر راشي

د ښـکـلا لـتـون یـې اړ کـړلـو د نـورو
ګنې څـه لـه تورو غواړو یـا لـه سـتورو
لا مو میـنـه د اشـنـا د کوڅې ښـار دی
لا پـه میـنـه مـو مـنـت د ریـبـار بـار دی

چـې د نـیـمـو تـورو شـپـو تـېـرو تـه ژاړو
مـونـږ د سـتـورو کـتـوري لـه زاڼـو غـواړو

سـتا د مینې پـه خوږو دې مونږ ماړه شـو
بیـا دې خیر دی د ځوانـانو نـه زاړه شـو
ارمـانونـه مو پوره شـول او کـه نـه شـول؟
خو پورونه مو درپورې شـول، او ښـه شـول

۲۰۲۵/۱۲/۲۲

لمریز زیری

گوره مازیگر راغی
لمر د غره په سر راغی
مخې له په لاره کې
یا د اشنا ور راغی
یا راله گودر راغې
وخت د عشق د کر راغی
جوړې په مونږ ژر راغی

مونږه لاره ومونده
مونږه یار له ورغلو
زر نغمې مو پورته کړې
بیا ستار له ورغلو

مـــړ ښـــــارمـــو ژونـــدی کـــړلـــو
مـــونـــږه ښـــــار لـــه ورغـــلـــو
ســـــترگــــې تـــر گـــلـــونـــو وړو
لاس تـــــر پــــرهــــرونــــو وړو
لمـر د بـخـت تـر هســـکـه شـــو
دا بـــه پـــه کـــلـــونـــو وړو
دا ډولـــی د ښــــکـــلـــو ده
اوس یـــې تـــر کـــورونـــو وړو

مـــونـــږه لـــیـــوني د یـــار
یــار، اغــیــار تــه نــه پـریـږدو
اوس پــرې وار زمـــونـــږه دی
اوس یــې وار تــه نــه پـریـږدو
دی ځــه کــار تــه نــه پـریـږدو
نــور یــې دار تــه نــه پـریـږدو

۲۰۲۵/۱۲/۲۳

د خدای استازی او د یهودي مړی!

د مدینې د یوې کوڅې په سر کې
د خدای استازي
سړیتوب وپاله
مینه یې وکرله
او مینه یې وخرله

د خدای استازی ودرېد
ځکه چې هلته جنازه تېرېده
او جنازه د یهودي مړی و

نو ټول ملګري یې حیران شو ورته
چې د عربو د یوه کلي منځ کې
د یهودي دې جنازه تېرېږي
او د عربو پېغمبر دی ورته ودرېږي
خو د خدای استازی
د یهودي مړي ته ودرېدلو
اخیر یوه ملګري خوله پرانېسته

د سـینـد اوبو ته یې ویاله پرانیسـته

او پیغمبر تـه یې پـه غوږ کې وویـل
د یـهـوودي مـړی دی
او تـه عـرب یـې
دا د عـربـو پـه زړه نـه ځـایـېږي
چې د خدای اسـتازی دې عرب وي
او د یـهـودي
د جنازې د تېرېدو په وخت دې ودرېږي!!

نـو مـحـمـد(ص) ومـوسـېـده
زرو ګلونو خولګۍ پرانیسـتلې
او مـحـمـد(ص) وویـل:
خـدای د انسـان رب دی
هـغـه! نـه یـهـودي دی
او نـه عـرب دی
زه د انسـان مـړي تـه ودرېـدمـه
او د آدم(ع) د مـلـت
یـوه واړه غـړي تـه ودرېـدمـه

۲۰۲۵/۱۲/۲۵، منامه، بحرین

غزل

ســـتـا د وړانګو د انګۍ پـه چم کې اوســـو
لمره! مونږه د ســـپوږمۍ په چم کې اوســـو

د پرهر د موســـکې خولې سره رادرومـه
مونږ د ګـل او د غوټۍ پـه چم کی اوســـو

یوه ســـا مو د ژونـدون او مرګ توپیر دی
ځنکـدنـه د ســـلګۍ پـه چم کې اوســـو

زمونږ کســـو لـه انځور د ښـــکلو راکړه
د مـیـنـو د کـکـۍ پـه چـم کـې اوســـو

د خپلواکو شـــاه زلمو د تورو شرنـګ یوو
د میـونـد د مـلالـۍ پـه چم کـی اوســـو

مونږ د ټیـک او د پېزوان د هېواد ورځ یوو
خو په شــپو کې د کمڅۍ په چم کې اوســو

د مومن غونـدې د ښـــار ښـــامـاران وژنو
د دې جونو د نتکۍ پـه چم کې اوســو

مونږ د هســـک ســتورو ته اړ نه یوو اکبره
مونږ د خپلې شـین خالۍ په چم کې اوسـو

۲۰۲۵/۱۲/۲۸، منامه، بحرین

څلوریزه

چـرتـه ســـکـوت دی او چـرتـه شـــور دی
چـــرتـــه اوبـــه دي او چـــرتـــه اور دی
دا چـې پـه تـیـرو کـې گـل ټـوکـېـږي
دا د گـــل نـــه دی دا د ژونـــد زور دی

سهار مناما، بحرین
۲۰۲۵/۰۳/۰۶

ته څوک يې!؟

ته د لمر د رڼا څپره
چې په سم او غره راخېژي
په کوټې کې مې ځلېږي
د کړکۍ په وره راخېژي

ته زما د اندېښنو
شپو ملګرې يې که نه يې
ته مې ټکى يې ولاړ يې
ته مې زړې يې که نه يې

لکه خندې د سپوږمۍ مې
تورو شپو کې راښکاره شې

ټـولـه ورځ مـې پـه اســـمان کـې
لــکــه لمــر راتــه ديــره شـــــې

لــږ پــه هــغــه پــل مــې بــوځــه
چــې پــه کــوم قــدم روان يــې
تــه مــې کــچ د لــوی کــالــه يــې
تــه مــې بــريــد د لا مــکــان يــې

۲۰۲۶/۰۱/۰۷، منامه، بحرين

غزل

چـا ویـل چې ســپینو ســتورو تـه دې پـایم
نــه! د تــورو څــڼــو تــورو تــه دې پــایــم

د نــړۍ د زورورو بــخــت بــه تــور کــړم
د نــړۍ ټــولــو کــمــزورو تــه دې پــایــم

زه دې لمر د ســپین ســهر او مــازیګر یم
د خـــتــو، پــرېــوتــو لــورو تــه دې پــایــم

ســتا د ســپینې خولې په تور دې ما تورن کړې
د رقــیــب د ژبــې ســـپــورو تــه دې پــایــم

په پېرو پېرو مې مات کړل باک يې نشــته
د پــېــړو پــېــړو سر زورو تــه دې پــایــم

ســـتـا دمينې شـــېبې ګڼې شــــه لاليـه
داســـــې ډېــرو ډېــرو نــورو تــه دې پـايــم

تــه د مـخ ډيـوګـۍ پـټـې کـړه کـه غـواړې
د رڼـو خـالـونـو ســـــتـورو تــه دې پـايــم

۲۰۲٦/۰۲/۱۱
منامه، بحرين، سهار

قطعه

مــا د وخـت د اوړېـدلـو قســـمـت بـويـه
زه د شـــپو ورځو د بخـت پـه دړو ليـک يم
د وربل شـــپو کې د خال ســـتورى ښـــکاره يم
د تنـدي پـه ځمکـه څرک د يـار د ټيـک يم

۲۰۲٦/۰۱/۰۱
منامه، بحرين

غزل

د بیلتون د شپې د سوړ اسویلي سازه
پرده پورته کړه د وصل له دې رازه
څه انګۍ شه د بهیر د مزل تاله
د ساروان د قدمونو تر اوازه
دا ګربت چې تر اسمانه الوتل ګړي
دې د لارې پای ته څیر وي له آغازه
ته دشپې راشه د تورو څڼو پېغلې
د سهر غوندې زمونږه ګروه وازه
د اغیار د یار د وروځو سره څه دي؟
د جومات محراب ته پری نه ږدئ بې لمازه
مینان چې یې د خال تر ستورو کچ کړي
د نظر لارې د فکر له اعجازه
که مې ستا ښایست و نه ستایه په مینه
ته به څه کوې د یار د ښایست نازه
څه په مونږ پسې راځه د غرونو بازه
تږ اسمانه چې تګ زده کړې له پروازه

۲۰۲۶/۰۲/۱۸، منامه، بحرین

ستا تن

هغـه تن چې تـه يې بولې چې ســـتـا تن دی
د ژونــدون د بــيــلــو بــنـو يــو وطــن دی

ســـــتـا لـه تـنـه گـڼ گـلـونـه را ټـوکـېـږي
د پــايښــــــت د سرو گــلــونــو يــو چــمــن دی

تـه يې هســـې د ځـان بولې خو ســتـا نـه دی
کـه وطـن دی، کـه ټـاټـوبـې، کـه مـدفـن دی

چـا تـه نيـت، چـاتـه تکـل دی، چـاتـه تـگ دی
کلـه پـاو دی، کلـه ســـېر دی، کلـه من دی

ژونـدون څـه دی؟ انـگـېـرنـه ده، کـه تـن دی؟
پـه او بو گې يې ډوب کړې دی خو چڼ دی

۲۰۲٦/۰۲/۲٤
منامه، بحرين

د ځمکې دود

خدای دې هر لمونځ ور قبول کړي
د سهر که د ماښام دی
خو په دې دود دې هم پوی شي
چې زمونږ د صف امام دی

که یې فرض د بل حق و
او د بل حق ته یې پام دی
نو د ځمکې خلیفه شو
که دی چین دی، که دی سام دی

دی به وتړي صفونه
د لښکرو، جوماتونو
چې د چا تر ستورو پل شو
چې د چا تر هسکه لام دی

د قامونو له نظره
د افرادو نظر جوړ کړه
گني هرانسان فرعون دی

که نظر دی نو د قام دی
تر ځېرنو چې يې سر وي
تر مکتبه چې يې گام دی
د هغو سپندونه ډک دي
د هغو تر لپو جام دی

٢٠٢٦/٠٢/٢٧
منامه، بحرين

د مينې کودې

د ژوند دښته ده سپرلي باران و نه کړ
خو د خپل همت ګلونه په کې شمېرو

د وربل شپه د تندي په ځمکه شته شوه
ستوري مه خبژه خالونه په کې شمبرو

برېښ د غاښو او د شونډو يې تت مه شه
ملغلرې او لالونه په کې شمېرو

ډمه ونيسه هېنداره زمونږ مخ ته
مونږ د ټول عمر کلونه په کې شمېرو

ستا د مينې د اعجاز سندرې وايو
د شپې وځو او لمرونه په ګې شمېرو

٢٠٢٦/٠٣/٠٤
منامه، بحرين

مینه او کرکه، دوه ارزښته

مینه او کرکه
خو دوه خېرى دي
او دوه ارزښته!!
د چا د خوښو
یا د نا خوښو
خو!
دا دوه ارزښته
خپلواکه نه دي
واک یې د بل دی
زواک یې د بل دی
نو نه مو مینه
له خپله واکه
او نه مو کرکه
له خپله واکه
خو!

پوښتنه دا ده!
چې دي دا دواړه
د چا له واکه؟
د ژوند د هغه
پړاو له واکه
چې زه په کې یم؟
نو که زه ځوان یم
دا ارزښت ځوان دی
مینه ده ځوانه
کرکه ده ځوانه

او که زه زړېږم
ارزښت زړېږی
مینه بې ځانه؟
کرکه بې ځانه؟

بحرین، منامه
۲۰۲۶/۰۳/۰۶

زمونږ دودونه

لیونتوب د محبت زمونږ دود نه دی
رسوایي د ښایستونو مو سود نه دی

سترګو مه اوړئ د وروځو تر محرابه
دا محراب لا د سخا او د جود نه دی

تر پیالو چې لاره وړي تر داره نه ځي
دا ساقي خو، تش ساقي شو لاړښود نه دی

اباسین زمونږ په تړو کې سیند نه شو
لا هلمند د بکوا دښتو ته رود نه دی

ښکلي را نغلي د وصل تر پړاوه
جوړې عشق مو د بېلتون غوندې تود نه دی

منامه، بحرین
۲۰۲٦/۰۳/۱۱

وده او اوښتون

Evolution and Revolution

دا چې سندره د انقلاب ده
دغه نغمه مو د زوړ رباب ده

کله بې سره کله د تاب ده
څه بې کتابه څه د کتاب ده

لږه د ښو ده ډېره د بدو
څه د ثواب ده څه د عذاب ده

دغه سندره د ولس نه شوه
نه مو د سیخ ده نه د کباب ده

څپه د نیز وه غاړی یې یوړی
نه مو د غاړو نه د دریاب ده

نــه دې د خــم شـــــوه نــه د رنــدانــو
نــه د ســـــاقي شـــوه نــه د خراب ده

د تنــدر بريښ وو د بــاران شـــــپــه وه
نــه دې د تــاب شـــوه نــه دې د اب ده

نـــو زمـــا چـــغـــه د ودې چـــغـــه
خــو ســــتــا ســــنــدره د انــقــلاب ده

څــپــه زمــونـږه د ســــېــنــد څــپــه ده
څپه چې ســـتا ده نـــــو د ســـيلاب ده

څلوريزه

شپې دې تېرې کړې پـه کومې او په کومې
چې ګـهيځ د پـلوشـــــو سره رادرومــې
مونږ دې پرېښـــودو د چا په کور کې ياره
اوس به مونږه ته د چا په کور کې مومې

۲۰۲۶/۰۱/۰۶، منامه، بحرين

د مولانا روم د مثنوي
د یو شمېر بندونو ژباړه

مثنوي:

بشـــنو از نی چون حکـایـت میکنـد
از جـدایـی هـا شـــکـایـت مـیـکـنـد

ژباړه:

د شـــپېلۍ له خولې نه واوره حکایت کا
لـه بیلتونـه لـه هجرانـه شـــکـایـت کـا

مثنوي:

کـز نـیـســـتـان تـا مـرا بـبریـده انـد
از نـفـیـرم مـرد و زن نـالـیـده انـد

ژباړه:

د جبو یوه دورمه[1] وم خو چې پرې شـوم
نو له درده، نه د نر ښـــځې نارې شـــوم

---

۱ . که څه هم د مولانا په مشهوره مثنوي کې، (نۍ) د شپېلۍ په مانا راغلې ده، خو یاد ساتئ چې (نۍ) ته موږه د پښتو ټکی (دورمه) هم لرو له (دورمې) نه د (نۍ) قلم جوړېږي او بوټي يې په جبو کې ولاړ وي.

مثنوي:

سـینـه خواهم شرحـه شرحـه از فراق
تـا بـگـویـم شرح درد اشـتـیـاق

ژباړه:

سـینـه ځیرم تـابـه ښـایمـه فراقـه
سـینه ځیرې شـه د درد له اشـتیاقه

مثنوي:

هر کسـی کو دور ماند از اصـل خویش
بـاز جـویـد روزگـار وصـل خـویـش

ژباړه:

چې هرڅوک له خپله اصـله لرې وځي
بېرتـه راکـاږي تر خپلـه وصـلـه مزي

مثنوي:

من بـه هر جـمـعـیتی نـالان شـدم
جـفت بدحالان و خوشـحالان شـدم

ژباړه:

چې د هرې ډلې شـمـه پـه ژړا یم
که دوی خاندي نو زه خاندم په خندا یم

مثنوي:

هرکســـی از ظن خود شـــد یـار من
از درون مــن نــجســـت اسرار مــن

ژباړه:

هر یو تن چې له گو ما نه زما یار شي
نه د راز لټه مې کا نه يې د څار شي

مثنوي:

سر مــن از نــالــهٔ مــن دور نــیســـت
لیکن چشـــم و گوش را آن نور نیســـت

ژباړه:

زمـا راز زمـا لـه چيغې نـه بېـل نـه دی
خو د نوره ســترگې لرې غوږ اېل نه دی

مثنوي:

تن ز جان و جان ز تن مســـتور نیســـت
لیکن کس را دید جان دســـتور نیســـت

ژباړه:

تن لـه ځـانـه نـه پټېږي ځـان لـه تنـه
نـاخـبره لـه دې دوده لـه دې فـنـه

مثنوي:

آتش اســت این بانگ نای و نیســت باد
هر کـه این آتش نـدارد، نیســـت بـاد

ژباړه:

د شـپیلۍ غږ سیلۍ نـــه ده د عشـق اوره
هغه شته دی چې څوک شته شو ستا له توره

مثنوي:

تش عشــق اســت کـانـدر نی فتـاد
جوش عشــق اســت کا ندر می فتاد

ژباړه:

د شـپېلۍ نغمه د عشـق په شـور کې اور
دی
د شرابو جوش د عشـــق په زور کې زور
دی

مثنوي:

نـی، حـریـف هـرکـه از یـاری بـریـد
پـرده هـایـش پـرده هـای مـا دریـد

ژباړه:

چې حريف پرېږدي د عشق چاره بې باکه
د شـــپېلۍ په پردو کاندي پرده چاکه

مثنوي:

همچو نی زهری و تریـاقی کـه دیـد؟
همچو نی دمســاز و مشــتاقی که دید؟

ژباړه:

چـا ليـدلي داســې زهر و تريـاک وايـه
چې زړه ټول لکه شپېلۍ کړي هغه ښايه

مثنوي:

نــی حـديـث راه پـر خــون مـیـکـنـد
قصـــه هــای عشـــق مجنون میکنـد

ژباړه:

د شـــپـېـلـۍ ويـنـا د ويـنـو ډکـه لاره
د مجنون د لېونتوب د کيســو چـاره

مثنوي:

محرم این هوش جز بیهوش نیســـت
مر زبان را مشـــتری جز گوش نیســـت

ژباړه:

ټول بې هوښـــه د هوښـــونو محرمان دي
ټول غوږونه د دې ژبې مشـــتریان دي

مثنوي:

در غـــم مـــا روزهـــا بـــیگـــاه شـــــد
روزهـــا بـــا ســـــوزهـــا هـــمـــراه شـــــد

ژباړه:

له دې غمه ورځې نه تېرېږي شـــپې دي
د ســـــوزونـــو کـــرئ ورځـــې را پـــرې دي

مثنوي:

روزهـــا گـر رفـــت، گـو رو، بـــاک نیســـــت
تو بمان، ای آن که چون تو پاک نیســـت

ژباړه:

که د عمر ورځې تېرې شوې باک نه شته
خو ته پاتې شه له تانه څوک پاک نه شته

مثنوي:

هر که جز ماهی، ز آبش ســـیر شـــــد
هرکه بی روزی اســـت، روزش دیر شــــد

ژباړه:

بې له کبه چې هر څوک يې، اوبو موړ کړو
بې روزۍ ته ورغ اوږده شوه دې يې زوړ کړو

مثنوي:

در نيابد حال پخته هيچ خام
پس سخن کوتاه بايد، والسلام

ژباړه:

دا اومه د دې پخو په حال پوه نه دي
وينا لنډه، له سلامه نه ښه څه دي؟

مرکزي لندن، بېټر سي، برتانيه
۲۰۲۴/۰۹/۰۸

يادونه: زه د دواړو ژبو له درنو ليکوالو، اديبانو او ژبپوهانو له انده، مشوره او نېغه کتنه غواړم چې دا کار نور هم پياوړی شي، همدا راز له خدايه دا دعا لرم چې د دري ژبې تکړه شاعران او ليکوال هم ورته هڅه وکړي او د پښتو ژبې ادبي خزانه د خپلو ژباړو له لارې تر خپلو لوستونکو ورسوي. **ډاکټر اکبر**